# قرآن کریم او تجوید I

لیکوال: پوهنمل غلام محمد «محب»
ژباړونکې: پوهنوال محمد ابراهیم «نورزائی»

کال، ۱۳۸۷ هــ.ش

بسم الله الرحمن الرحیم

In the Name of God, the Compassionate and the Merceful

# د مطالب فهرست


**سرلیک:**

**سریزه:**

**لومړی فصل:** د قرآن کریم د تلاوت ادبونه، د تجوید پیژندنه او دتورو مخرجونه.

**لمړی لوست:** د قرآن کریم د تلاوت ادبونه.

**دوهم لوست:** د تجوید تعریف، موضوع او موخه.

**دریم لوست:** دالبقره د سورت د لومړي رکوع د ۱–۷ آیتونو لوستل.

**څلورم لوست:** اصلی او فرعی توري او د هغوی مخرجونه.

**پنځم لوست:** د تورو د مخرجونو په اړوند د غاښونو، شنډو، خیشوم او حلق پیژندنه او د هغه تطبیق د البقرة په سورت کې.

**دوهم فصل:** د تورو متضاده او غیر متضاده صفتونه.

**لومړی لوست:** (جهر، همس، شدت او رخوت) د تورو متضاده صفتونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**دوهم لوست:** (استعلاء او استفال، انطباق او انفتاح، اصمات او اذلاق) د تورو متضاده صفتونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**دریم لوست:** (قلقله، لین او تفشي) د تورو غیر متضاده صفتونه او دهغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**څلورم لوست:** (استطالت، تکریر، صفیر او انحراف) د تور یوغیر متضاده صفتونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**دریم فصل:** شمسی او قمری توري، د ساکن لام، راء او نون حکمونه.

**لومړی لوست:** شمسی او قمری توري او په قرآن کریم کې د سکتی ځایونه.

**دوهم لوست:** د ساکن لام او د جلاله د لفظ (الله) دلام حکمونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**دریم لوست:** د ساکنی او متحرکې راء حکمونه او دهغـــوی تطبیـــق دالبقـــرة پـــه سورت کې.

**څلورم لوست:** د ساکن نون او تنوین حکمونه (اظهار، ادغام، انقلاب او اخفاء) او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**څلورم فصل:** دساکن میم حکمونه، مد او وقف.

**لومړی لوست:** د ساکن میم حکمونه (ادغام، اظهار، او اخفاء) او د هغوی تطبیـــق د البقرة په سورت کې.

**دوهم لوست:** د طبیعی، متصل او منفصل مد حکمونه او د هغوی تطبیق د البقرة پـــه سورت کې.

**دریم لوست:** د وقف حکمونه او قسمونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې.

**مأخذونه:**

## بسم الله الرحمن الرحيم

**سریزه:**

**الحمد الله هدانا لهذا و ماکنا لنهتدی لو لا ان هدانا الله، الصلاة و اسلام علی خیر خلقه محمد الذی انقدنا بر سالته الی رضوان الله و علی اله و اصحابه الـــذین فـــازوا بمجاهد تهم جنان الله اما بعد: فقد قال الله تبارک و تعالی فی کلامه المجید و فرقانـــه الحمید، اعوذ باالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم «آتیناهم الکتاب یتلونه حق تلاوته او لئک یؤمنون به» ژباړه: «هغه چاته مو چې قرآن ورکړ په حق سره هغـــه لولی او دوي په هغه باندې ایمان راوړی». او همدارنګه الله پاک فرمـــایلی: «ورتـــل القران ترتیلا».**

**ژباړه: «قران صاف او واضحه ولونه په واضح لوستلو».**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: «ان الله یحبُّ ان یقرأالقرآن غضاً کما اُنزل »**

**ژباړه: «خدای پاک ډیر خوښوي چې قرآن کریم لکه څرنګه چې نازل شوي دي هم هغی تازه وویل شي».**

**د تجوید په فن کې د هغو زیاتو کتابونو د محتویاتو په پام کې نیولو سره کوم چـــې د حضص د روایت مطابق د عاصم بن ابی کوفی په قرائت کې له په خوا څخـــه لیکـــل شوي کوښښ او زیاد ایستل شوي ترڅو د هغو مطالب په لنډ ډول سره په یوه مناسبه طریقه د زده کوونکو د فهم او درک سره سم راعونډ او وړاندي شـــي او د امکـــان ترحده پوری نیمګړ تیاوی او مشکلی نکتی لري او یا حل شي او دقیقه تعریفونـــه او تقسیمونه و کارول شي په خاصه توګه د حروفو د مخرجونو په اړوند چې د تجویـــد علماوو د هغو په ځینو بر خوکې له یوه او بل سره اختلاف هم کړي دي سره لـــه دی چې د تجوید دغه برخه د ډیر اهمیت لرونکې برخه ده.**

**د حروفو د مخرجونو د اهمیت له شرحی څخه وروسته د حروفو د صـــفتونو بحـــث راغلی دي او دغه دواړه (مخرجونه او صفتونه) د هغه بحثونو څخه شمیرل کیږي چې پر عملی تطبیقاتو، سم او فصیح نطق باندې زیاته تکیه لري.**

په دغه کتاب کې د ښوونکې د روزنی د دینی علومو د څانګې په دو دسمسترو کې د دی فن د پوهانو خبري او نظريي لوستل کيږي. ډير کوښښ شوي ترڅو د امکان ترحده د محصلینو دښي زده کړی او په قاعده باندې د ښه پوهیدو او عملی ــ تطبیقی جنبی په نظر کې نیولو سره اسانتیاوي رامینځ ته شي. دغه کار د عصری وسایلو په واسطه دقیقو تحقیقاتو او پلټنو ته ضرورت لري ترڅو چې دالله پاک کتاب ته ښه او زيات خدمت شوي وي او هغه په فصیح عربی نطق او لهجه سره تلاوت کړای شي.

ډير توجه په کار ده که څه هم د تجويد اعتماد زيات بر نقل او روايت سره شوي خو په واقعیت کې د هغي مصدر او مرجع په عربی سلیم او لصیح ذوق باندې بنا شوي دي ځکه قران کريم په عربی ژبه نازل شوي او د عربی ژبی خاوندانو تل په خپلو خبروکې د ښکلو او روانو الفاظو څخه ګټه اخستی او د درنو کلمو د استعمال څخه ئی زده کړی ده.

او د همدي په وجه ئی د تجويد فن د تلاوت ګاڼه او د قران د نظم د اداء ښايست ببنونکې فن ګنلي دي لکه چې په حديث شريف کې راغلی: «زينوا القران باصواتكم» ژباړه: «قرآن ته په خپلو اوازونو سره ښایست ورپه برخه کړی».

ابن جزری د خپل کتاب «الجزرية» په سريزه کې ويلي دي:

وهو حلية التلاوة وزينة الاداء والقراءة

ژباړه: تجويد تلاوت ته ښایست ببنونکي او د حروفو د اداء او قرائت لپاره ښکلا ورکوونکي دي.

د دی علم استادان بايد توجه ولري چې مونږ دنده لرو ترڅو د محصلینو څخه وغواړو چې د تجويد قواعد عملاً وکاروی او دسم تلفظ او معياری اداء لپاره ډير تمرين تر سره کړی. دلته به مناسبه وی ترڅو هغو مرحلوته اشاره وکړو چې هر محصل بايد د قرآن د لوستلو او تجويد د زده کړی په خاطر له هغي څخه تير شي.

**لومړی مرحله:**

**محصل ته د تمرین ورکولو په لومړي وهله کې باید دا لاندي نکتی په نظر کـــې ونیول شي:**

1. **دهر حرف تلفظ د هغه د خاص مخرج څخه په صحیح او نرمه توگه.**
2. **د حروفو دلازمو صفتونو مراعات. چې دا دوه مورده د حروفو دیوه او بل څخه د سم تشخیص او پیژندني اساس گڼل کیږي.**
3. **په اعرابی حرکاتو باندې مواظبت، لازم او ممنوع وقفونو ته توجه کړل ترڅـــو د قرآن کریم معنی ته دخلل د رسیدلو څخه ډډه وشي.**
4. **دلازم او طبیعی مدونو، د اظهار او داسي نورو احکامو ساتنه.**
5. **او په احر کې د جلی لحن تصحیح ترڅو د کلیمی ښاته زیان ونه رسیږي.**

**دوهم مرحله:**

**په دې مرحله کې استاد محصل هڅوي ترڅو هغو صفاتو او احکامو ته چې تکمیلـــی جنبه لري توجه وکړی، له هغی څخه هغه امور مراد دی چې د نطق او تلفظ درستوالی پر هغی مرتب ندي بلکه د فصاحت دلوازمو او د قرائت د کمال څخه گڼل کیـــږي، لکه: ترقیق، تغخیم، غنه، ادغام، اخفاء، اقلاب، مدونه او وقفونه او لکه قلقله، لـــین، تفشي، انحراف، استطالت، صفیر، اصمات او اذلاق.... او هغه ځایونه چې په هغـــی کې په ښکاره صورت د معنی تعلق او یا نه تعلق او د وقف حسن او قبح لـــه ورابـــه معلومه ده، او وروسته په دې مرحله کې نا ښکاره غلطیو درستوالی پیل کیږي.**

**دریمه مرحله:**

**په دغه مرحله کې چې مهارت ته د رسیدو سرحد دی محصل تجویدی قاعـــدی او د حروفو مختلف احکام له مخرجونو څخه نیولی د هغی تر صفاتو پوری په تحقیقی توگه اداء کوي او د ده نطق د هر راز ښکاره تیروتنو او زیاد تره د ناښکاره تیروتنو څخـــه هم ساتلی وي.**

باید توجه ولرو چې دی مرحلی ته رسیدل د کار پای ندی که محصل دی مرحلی تــه رسیدلی وي لاهم د ده قرائت د پوره اتقان څخه برخمند ندی او د حروفو پــه اداء کولو کې په پوره توگه مهارت نشي درلودلای او حتی که ماهر هــم شــي بیــاهم د مهارتو په مابین کې بیلی بیلی کچی موجودي دي چې هر یوه په بلــه بانــدې ښــه والی لري.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم قرائت د مهارت او اتقان لووی څوکې ته رســیدلی چې خدای جل جلا له ده ته د هیڅ څه په برخه کې دومره اجازه نوه ورکړی کومــه چې ئی د قرآن کریم د تلاوت او ښکلی غږ په باره کې ئي ور په برخه کړی وه[۱].

په دي مرحله کې استاد د محصلانو د نابښکاره عیبونو او نیمگړتیاوو دلیری کیدو په برخه کې زیاد باسي معنی دا چې د هغو عیبونو د بر طرف کیدلو لپاره چې پــر نطــق باندې نه بلکه پر اتقان او استحکام باندې بده اغیزه کوی، زیار باسي لکه په مــدونو کې دقت، د وقفونو د دقیقو ماناگانو مراعات او د حروفو د صفاتو په تحقیق کــې د مهارت سرحد ته رسیدل. د تجوید استادان باید پوه شي چې د محصــلانو لپــاره د تدریس په وخت کې دوه لاندې مهم فرصتونه برابر کړی:

۱.سم تلفظ ته غوږ ایښودل، څرنگه چې لمړي باید استاد هغه ولولی او بیا محصلان مصحف له مخی او یا د چارت له مخه د ده قرائت تعقیب کړی

۲. .سم نطق اوتلفظ چې محصل ئي ولولی او استاد ورته غوږ کیږدي او د ده تیروتنی ورته په گوته کړی.

او همدارنگه د دی فن علاقمندو محصلانو ته دا خبره وپوهول شي چې د تجوید علم یو زیات عملی علم دی او دې کتاب په واسطه د هغی زده کړه ممکنه نــده بلکــه هغوی اړ دي ترڅو زیات تمرین وکړي او قاعدی وکاره وي ترڅو د اســتقامت لاره تعقیب او په سم تلفظ باندې عادت شي، لکه چې ابن جزری وائي:

---

[۱] هغه متفق علیه حدیث ته اشاره ده چي له ابی هریرة (رض) څخه نقل سوي دي: «لم یأذنِ الله شیئ ما اذن للنبی ان یتغنی بالقران».

وليس بينه و بين تركه الا رياضة امرئ بفكه

ژباړه: د تجويد او دهغه د پريښودو ترمينځ کوم واټن نشته صرف دومره چې سړی د غاښونو په اوريو باندې زحمت او زيار وباسي. د دغه کتاب د تاليف لپاره ديو شـــمير مخمو مراجعو او د اعتماد وړ کتابونو څخه ګټه اخيستل شوی ده په سر د ټولو کې د ابن جزری د مشهور کتاب جزريه ( المقدمة فيما على قارئـــه ان يعلمـــه) او د هغــو شروحو کومی چې په دغه کتاب باندې ښکل شوي له هغی جملی څخه ملا علی قاری شرحه، د شيخ ذکريا النصاری شرحه، دهری څخه دشيخ خالد تعليقـــات، دمـــدينی منوری د پوهنتون قاری او استاد عبدالعزيز عبدالفتاح د تجويد د قاعدو څخـــه ګټـــه اخيستل شوي او مراجعه ورته شوی ده. په پای کې د منان خدای څخه دا سؤال کوم ترڅو دنړی ټول مسلمانان خپل زحمت او رضاء ته شامل و ګرځوی او د قرآن دلاری لارويانو ته ئي ورپه برخه کړي آمين يارب العالمين وصلی الله تعالی علی خير خلقـــه محمد و علی اله و اصحابه و اتباعه الی يوم الدين.

## لمړی فصل

## دقرآن کريم د تلاوت آداب، تجويد پيژندنه او دتورو مخروجونه

## لمړی لوست

## دقرآن کريم د تلاوت آداب

**موخی:**

**الف:** د محصلينو بلدتيا له هغو آدابو سره چې د قرآن کريم په برخه کې ئي بايد لـــه ځانه وښئي او په عمل کې هغه مراعات کړي.

**ب:** د بی پروائي او نه توجه نه ډډه کړل د قرآنی آياتو د آوريدو، تفکر او دتلاوت نه د تأثر په نسبت چې ډير بد معنوی آثار په خپله شاکې لري او د اسلامی شريعت لـــه نظره د قرآن کريم په نسبت د ادب پرينښودل ګڼل کيږي.

**ج:** د صالح سلفو د حالاتو څخه خبريدل چې د قرآن کريم د اوريدو او قرائـــت پـــه وخت کې ئي در لودل او مونږ ته را رسيدلی دی.

**دقرآن کريم ادبونه:**

دقرآن کريم د تلاوت د ادابو په برخه کې د تفسير او علوم القرآن علماوو ځينـــی نکتی د الله د کتاب، نبوی احاديثو او د محمدی صلی الله عليه وسلم دامت د صـــالح سلفو د خبرو څخه راغونډی کړي دي ترڅو ئي د قرآن کريم لوستونکې ته پـــه دی برخه کې لارښوونه کړي وي د هغی له جملی څخه د قرطبی د تفسير خاوند د خپـــل تفسير په مقدمه کې ئي د «باب مايلزم قاری القرآن و حامله مـــن تعظـــيم القـــرآن و احترامه» ژباړه: باب د هغه څه په برخه کې چې د قرآن پـــه لوســـتونکې او حمـــل کوونکې باندې د قرآن د تعظيم او احترام په برخه کې لازم دی، تر سرليک لاندي يو بحث راوړی دي چې لنډيزئي په لاندي توګه سره ذکر کيږي:

قرطبی وایي: حکیم ترمذی په خپل کتاب نوادر الاصول کې یادونه کړي چې یو لـــه احترام کړلو څخه قرآن کریم ت دادي چې شخص هغه بی له اوداسه څخه مســـاس نکړی او بی له اوداسه څخه ئي ونه لونی او بل داچې مخ کې له لوستلو څخه خپلـــه خوله په مسواک سره پاکه او خوشبو کړي دا ځکه چې خوله د لوستلو لاره ده او په دی برخه کې امام مالک هم چې د تابعینوله جملی څخه دی وائي: په یقین سره چـــې ستاسو خوله یوه لاره دلوستلوله لاروڅخه ده ترڅو چې کولای شي هغه پاکه وساتی، او دهغه په برخه کې بل ادب دادي چې قاری که څه هم په لمانځه کې نـــوی خـــو دلوستلو په وخت کې دی تکیه نکوی او سم دی کینی او د قرآن د حرمت له جملی څخه د ښکلو جامو اغوستل دی لکه څرنگه چې د لـــوړی رتبـــی وآل اشخاصـــو د ملاقات په غرض اغوستل کیږي دا ځکه چې قاری د لوستلو په وخت کـــې د خپـــل پروردگار سره مناجات اولیدنه لري، او همدارنگه د قرآن د آدابو څخه د لوستلو په وخت کې قبلی ته مخامخ کیناستل دی چې دامت علماوو هغه عملی کـــړي دي، او بل احترام د قرآن په مقابل کې د بلغم د اچولو په وخت کې د خولی وینځل دی لکه څرنگه چې عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما د لوستلو په وخت کې به ئي خپله خوله پریوینځله او بیابه ئي خپلو لوستلو ته دوام ورکولو، او بل ادب چې د قـــران د لوستلو په وخت باید عملی شي دادي چې هر کله پر قاری باندې ارگمی او کسالت پیښ شي باید د هغو ترلیری کیدو پوری له لوستلو څخه ډډه وکړی ځکـــه چـــې د لوستلو حالت د خدای پاک سره مناجات دی او ارگمی د شیطان له هڅو څخه یـــوه هڅه ده، دمجاهد د قرائت امام ویلی دی: هرکله پر تا باندې دلوستلو په وخت کـــې ارگمی جمله وکړه قرائت پریږده تر هغه وخت پوری چې د ارگمی او کسالت حالت در څخه لیری شي او عکرمه رحمة الله علیه به دا عمل د قرآن درناوی ښودلو، او بل ادب چې د قرائت څخه مخ کې پر ځای کیږي دادي چې د لوستلو په پیل کـــې دی استعاذه (اعوذ باالله من الشیطان الرجیم) ووائي او وروسته دی ( بسم الله الـــرحمن الرحیم) ولولی، او که سورت ئی له اوله څخه پیل کړي وي او یا له هره ځایه چې د

وقفی وروسته ئی پيل کوی بسم الله الرحمن الرحيم دی له سره ووائې او همدارنگه کله ئی چې ديوه سورت لوستلو پيل کړل بی له اړتيا څخه دی د هغه سورت تر پايه پوری لوستل نه دروی او دبل چا سره دی په خبرو ځان نه مشغول کوی او بايد د لوستلو د نه قطعی لپاره دی لاره جوړه کړی او په داسی ځای کې دی لوستل نه پيل کوی چې هغه د لوستلو د قطعی احتمال زيات وی او د خلکو په ځواب ورکولو کې مصروف کيږي چې د دی عمل څخه به د قاری استعاذه کمزوری شي کومه چې مخ کې ئی کړی وه. په همدی توگه د قرآن درنښت د هغه ورو، په ترتيل او تجويد سره لوستل دی چې په ترڅ کې ئی خپل پام د هغه د مانا گانو په پوهيدو سره هم مشغول کړی او وپوهيږي چې د ده مخاطب څوک دی؟ همدارنگه د قران په مقابل درناوی داهم دی چې د رحمت د آيت په لوستلو کې توقف وکړی او د خدای رحمت ته په خپل رغبت کې زياتی راولی او کله چې د وعيد او عذاب آيت ته ورسيږي د خدای د هغه عذاب څخه پناه وغواړی. او د قرآن کريم د حقونو څخه يو بل حق د هغه د تورو او کليمو د حق اداء کول دی ترڅو چې کلام په واضحه او پوره توگه سره تلفظ شي څکه چې د حديث شريف مطابق د کليمو د هر توری په مقابل کې لس نيکې وعده ورکړل شوي دی او لازمه ده چې د هر حکم او آيت د لوستلو څخه وروسته دهغی په ريښتياوالی او حقانيت سره شاهدی ورکړی په خاص ډول د لوستلو په پای کې ووائې: «خدايه! ستاخبری ريښتيا دی او پيغمبر دی هغه بی له کوم کموالی ستا بنده گانو ته رسولی او مونږ په هغه باندې شاهدان يو او مونږ په حق باندې د شاهدانو او په انصاف او عدالت باندې دي دريدونکو له جملی څخه وشميره! او وروسته دی نوری مأثوره دعا گانی ووائې» او د قرآن بل درناوی دادي چې هغه دی په التقاطی ډول له دی ځايه او هغی ځايه له دی سورت څخه اوله هغی سورت څخه په تيت ډول نه لولی لکه څرنگه چې حضرت پيغمبر(ص) حضرت بلال (رض) چې دا کار به ئی کاوه منع کړ. همدارنگه کله چې ئی د قرآن تلاوت وکړی د فراغت څخه وروسته دی هغه خلاص نه پريږدي او پر مصحف باندې دی بل کتاب نه ايږدي،

مصحف باید تل د نورو ټولو کتابونو په سر کیښودل شي. بل ادب د قرآن په برخــه کې دادي چې هغه دی تل په خپله غیږ کې ونیسی او پر منځکه ئی دی نه ایــږدي او په یوه پاک ځای باندې دی په خپل مخ کې کیږدي او همدارنگه په تخته لیکل شوي آیتونه دی په خپلو لاړو نه پاکوی بلکې هغه دی پرېاکو اوبو باندې پــاک کــړی او دهغه اوبو په ناپاک ځای کې داچولو څخه دی ډډه وکړی دا ځکه چې دغه اوبه هم حرمت لري چې باید وساتل شي څرنگه به چې مبارکو اصحابو د هغه اوبو څخه پــه شفاء حاصلولوکې گټه اخستله. همدارنگه د قرآن د زړو پــاڼو څخــه دی دنــورو کتابونو پوښونه نه جوړوی بلکې هغه دی په اوبو سره له بین څخه یوسی او اوبه دی په پاک ځای کې تویی کړی. د قرآن دادبونو څخه چې باید اداء شي یو دادی چــې هغه دی هره ورځ مطالعه شي لکه څنگه چې ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه به وییل: «زه حیا کوم چې هره ورځ قرآن کریم ته نظر ونکړم» همداراز د قــرآن لــه مخی څخه لوستل دسترگو حق د قرآن په مقابل کې اداء کوی چې له یــاد څخــه د قرآن په لوستلو کې یوازی د غوږونو حق اداء کیږي او په لمړی صــورت کــې د دواړو حقونه اداء کیدای شي لکه څرنگه چې په دی برخه کې د حضرت ابی سعید خدری رضی الله عنه څخه روایت شوي چې حضرت رسول صلی الله علیــه وســلم وفرمایل: «په عبادت کې مو دخپلو سترگو نصیبه او برخه ورکړی. اصحابو وویــل: ای خدای رسوله! دعبادت څخه د سترگو برخه څــه ده؟ حضــرت(ص) وفرمایــل: مصحف ته کتل، د قرآن په ماناگانو باندې فکر کړل، د قرآن په عجائبو باندې پند او عبرت اخستل پرسترگو باندې د قرآن له حق څخه عبارت دی. بل ادب د قرآن پــه مخ کې دادی چې د سورتونو نمونه دی د مثال په ډول (دبقره سورت) دارنگه ووائې (هغه سورت چې په هغی د بقره یادونه شوی ده) او (هغه سورت چې په هغی کــې د الحل یادونه شوی ده) او داسی نور که څه هم په حدیث کې د سورت نوم په اضافت سره هم بیان شوی لکه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «الآیتــان من آخر سورة البقرة من قرأهما فی لیلته کفاه» ژباړه: د بقری د سورت له پای څخه

دوه آیتونه چې څوک ولولي د قرآن برکت په هغه شپه کې ورته کـــافي دی. بـــل د قرآن د حقونه څخه دادی چې هغه د شعر ویونکو په لحجو سره د موسیقی به قـــالبو کې ونه وائې بلکې د عربی په ښکلو لحجو سره ئی د ولولی. بل دا چې قرآن کریم د سر چپه نه لولی لکه ځینی معلمان ئی چې د خداقت او مهارت په وجه د کوچینیـــانو لپاره سرچپه ایږدي. بل داچې د قرآن لیکنه دی په روښانه لیک تر سره شـــي لکـــه څرنگه چې حضرت علی کرم الله وجهه په کوفه کې چې دیوه لیکونکې لخوا تیریده کوم چې قرآن ئی په باریک لیک سره لیکلی ؤ او ورته وئی ویل: «اَجِلِ قَلَمَکَ» یعنی قلم دی روښانه وگرځوه، او په خپله حضرت علی(رض) دهغه قلم د لیکو لپاره اصلاح کړ. بل دا چې قرآن دی په یوه ډیر واړه مصحف کې نه لیلکې او په قرآن او مصحف باندې دی دتصغیر اطلاق نکوی د مثال په ډول (قرآنگی) دی نه وائې. او همدارنگه ځینو علماوو د مصحف په طلائی او نقره ئی خطونو سره د لیلکو څخه هم منع کړی ده ترڅو د قرآن معنوی ښکلا له ظاهری ښکله سره په اشتباه کې ونه لویږي او پـــه همدی ډول د قرآن آیتونه باید په دیوالونو او مځکه باندې ونه لیکل شي، او که چـــا په هغه اوبو باندې خپل ځان پریوینځه کومی چې د قرآن د آیتونو دم پری شوی ؤ یاد لیکلو څخه وروسته کاغذ د هغو اوبو په لوښی کې حل شوي ؤ نو باید د غسل څخه وروسته اوبه په نا پاک ځای کې تویي نکړی او هغه اوبه چې دی ده د بـــدن څخـــه څاخیږي باید په داسی ځای کې واوسی چې د خلکو د پلونو څخه لیری وی او یـــا هغه د حضیری په یو گوښه پاک ځای کې او یا په یوه لویه ویاله کې تویي کړی چې له اوبو سره ئی کډی شي او په پای کې داهم سنت ده چې د قرآن د خـــتم څخـــه وروسته هغه د دوهم ځل لپاره د سره څخه پیل کړی او حد اقل د (الحمد) ســـورت دی د (البقرة) د سورت د اولوپنځو او آخرو دو آیتونو سره ولولی چې دغه عمل په حدیث کې د (حال المرتحل) چې د ډیرو ښوکارونو څخه شمیرل کیږي په نامه سره یاد شوي دی. او همدارنگه د قرآن د ختم څخه وروسته دی شخص خپـــل اهـــل او

دکورنی ټول غړی راوبولی او دکلام الله مجید په حرمت سره دی خپلـــی شـــرعی غوښتنی د اجابت په طمعه دلوی خدای له درباره څخه وغواړی.

# دوهم لوست

# د تجوید تعریف، موضوع او موخه

**موخی:**

**الف:** د محصلینو په واسطه دی د قرآن کریم د مضمون د اهمیت او ارزښت پیژندل بیان او نورو دینی علومو په منبځ کې د نوموړی مضمون موقف او مرتبه دی په گوته شي.

**ب:** د محصلینو بلدتیا د دغه مضمون د ماهیت او حقیقت سره.

**ج:** د دغه مضمون او مهمو موضوع گانو باندې عام او کلی ډول سره پوهیدل.

**د:** د لوستونکې په ذهن او باطن کې د دغه مضمون د پایلو او د مسلمان وګړی په عقایدو او کړو وړوکې د هغه د نیکو اثراتو څخه پوه ترلاسه کیدل.

الله تعالی فرمایلی: «ان هذا القران یهدی للتی هی اقوم» صدق الله العظیم. قرآن کریم د اسلامی تشریع لمړنی مصدر او مرجع ده چې د آسمانی کتابونو څخه یو جامع او کامل کتاب دی چې پوهانو، ژب پوهانو او شاعرانو د هغه په ستاینښت کې مسابقی ته را دانګړی، د هغه فضیلتو او ښیگنی ئی بیان کړی دی. اما هیڅ داسی یو ښکلی نظر د قرآن په ستاینه او پیژندنه کې تر اوسه ندی پیدا شوی کوم چې د هغه په مورد کې د اسلام دستر پیغمبر(ص) په حدیث کې راغلی دی چې فرمایی: قران: (دخدای کتاب دی، هغه کتاب چې دستاسو د تیرشویو او راتلونکو نسلونو خبر او ستاسو د قضیو فاصل حکم په کې موجود دی، پریکنده دی ټوکې او ټکالی ندی، کوم کبرجن چې هغه ته پام وانړوی الله(ج) هغه ورک کوی، هغه څوک چې پرته له ده څخه لارښود غواړی خدای(ج) هغه بی لاری کوی، د خدای ډیره ټنیگه رسی ده، د حکمت څخه ډک کتاب دی، د بی ځایه خواهشاتو او کږولارو څخه نجات ورکوونکې دی، د ژبو د تیروتنو څخه ښه ساتونکې دی، پوهان هغه ته اړدی، د زیات تکرار څخه منع

کړل: «اناسمعنا قرآناً عجباً یهدی الی الرشد فامنابه» ژباره: په یقین سره مونږ عجیبه قرآن واورید چې ارتعاء ته لاربښوونه کوی نو په هغه مو ایمان رواړ).
(دهغه ویونکې صادق دی، پر هغه عمل کوونکې ته اجر ورکول کیږي، د هغه مطابق حکم کوونکې عادل او دهغه لوری ته رابلونکې سمی لاری ته رسیدلی دی).
پردی بنا دقرآن دآیتونو د کلیمو او جملو دقیق فهم او سم تلفظ د ســختو اړتیــاوو څخه دی نو لازمه ده چې محصل د قرآن د تجوید ښستیزی قاعــدی زده کــړی او دهغه د سم تلفظ او ترتیل له لاری د هغه د آیتونو د کلیمو او جملو د ماناګانو څخه پوهه لاس ته راوړی، د ده دژوند د لاربښوونی څراغ وګرځی او د دارینو د ســعادت وسیله چې د اسلام له نظره د انسان د ژوند موخه ده لاس ته راشي. دیــادونی وړ ده چې د خدمت نه مخکې.
او د راز راز مرسته کوونکو درسی توکیو د استعمال پر پروسه د تدریس د زده کړی لکه د سمعی او بصری وسیلو، تلویزیون، ویدیو، کمپیوتر او داســی نــورو کــې د محصلینو شاملول د تدریس د کیفیت کچه بیایی او د امکان ترحده د هغو څخه باید کار واخستل شي. او په پای کې کولای شو دقرآنکریم او تجوید د تــدریس عــام اهداف او موخی به لاندې ډول سره را لنډی کړو: د قرآن کریم او تجوید تــدریس هغه راز راز بی شمیره موخی محصلینو ته له ځانه سره لري چې د هغو څخه ډیــری اهمیت لرونکې موخی په لاندې ډول سره ذکر کیږي:
۱.دقرآن کریم په لوستلو کې د مختلفو اړخونو څخه د مهارت حاصلیدل په عام ډول لکه: دمخرج او صفت په لحاظ هر توری ته د هغه د حق ورکول لکه څرنګه چې د خدای رسول(ص) او د ده مبارکو اصحابو به هغه اداء کول، د حرکاتو او ســکناتو، مدونو، دسمو وقفونو د ځایونو ټاکل، محصل ته د لوستلو د قاعدو او اصولو په پاللو سره عادت ورکول ترڅو دده تل پاتی قریحه وګرځی او د قرآن کریم په لوستلو کې هیڅکله د تکلیف احساس ونکړی.

۲. د محصل په وجود کې د قرآن کریم په عظمت باندې د مینی او باور پیدا کول او همدارنګه د ده په وجود کې په هغه باندې د افتخار او دهغه څخه د دفاع روحیه پیدا کول.

۳.د تلاوت په وخت کې د محصل په زړه او روح کې د قلبی خشوع او نفسی اطمینان ځای په ځای کول، ځکه د هغه کتاب لوستل د قاری او د ده د رب ترمنځه یوه اړیکه او یو راز دی چې د خدای او دهغه د کتاب سره د ده د رغبت او تمایل سبب ګرځی او هغه ته په پوره شوق او کاملی علاقی سره مخه کوی.

۴. په قرآنی اخلاقو او آدابو باندې د محصل سمبالول او په هغه کې د موجودو علومو څخه ګټه اخستل.

**د تجوید تعریف:**

د تجوید کلمه په لغت کې د تفعیل صیغه چې د «جودة» (ښه کیدو) څخه اخستل شوی ده، لکه چې وایو: « جَوَّدَ اَلشَّی یُجَوِدُه تَجوِیدًا، وَ أَجَادَه یُجِیدُه إجَادَةً » یعنی هغه شي ئی ډیر ښه او ښکلی جوړ کړ، چې د ټیټ او بد ضد او نقیض ده.

پردی ښاسره تجوید د ښکلی کولو، پوره او اتقان (کلک کولو) په معنی دی. او په اصطلاح کې تجوید د حروفو د مخارجو، د هغو د لازمو صفتونو د پالنی د حق د اداکولو څخه عبارت دی، یعنی هغه حکمونه چې د صفاتو څخه سر چینه نیسی[۱] او د قضیی تفصیل دادی چې وایو:

حرف د دوو حالتونو خاوند دی: دانفراد حالت، او د ترکیب حالت او د دغو دواړو حالتونو څخه هریو د ځانګړو حکمونو خاوند دی:

لمړني حکم چې د انفراد په حالت کې د حرف سره اړیکه نیسی د هغه د مخرج تحدید (تشخیص) دی، وروسته دهغه د لازمو صفتونو تحقیق دی، لکه: استفال یا استعلاء، هَمس یا جهر، شدت یا رخاوت،.....

---

[۱] دغه تعریف د جزریه د کتاب د سریزی څخه اخستل شوی دی.

او دنورو خرفونو سره د ترکیب په وخت کې ترقیق، تضخیم، اظهار، ادغام، مـــد او هغو ته ورته داسی نور حکمونه هم رامنځ ته کیږي.
او کله چې کلمی د جملو د جوړیدو په خاطر له یوی بلی سره یو ځای کیږي نـــو د وقفونو حکمونه منځ ته راځي.

### د تجوید د علم موخه:

د تجوید د علم څخه موخه د قرآن د لوستلو اتقان او کلکوالی دی، چې حـــروف د خپلو خقیقی مخرجونو او د کموالی، زیادت او تکلف څخه پرته پـــه خپلـــو پـــوره حکمونو او صفتونو سره تلفظ شي ترڅو لوستونکې قرآن کریم په نبوی طریقه او پـــه عربی فصیحه لحجه سره چې پری نازل شوي دی ووائې.
د دغه کار لپاره یوه دقیقه تله شته چې د زیاتوالی او کموالی احتمال په کې نشته چې په کارول ئی ضروری دی اوکه نه قاعدی او حکمونه زیانمن کیږي، او لوستونکې د دغی تلی په کارولوکې د اتقان درجی ته هلته رسیږي چې تل لوستل تمرین او پاخـــه خپله ژبه په سم تلفظ سره روږدي کړی، لکه چې ابن جزری وییلی دی:

وَهوَ إعطَاءُ ُا الحُرُوفِ حَقَّها — من صِفَةَ لَهاَ وَ مُستَحَقَّها
وَلَيسَ بَينَهُ وَ بينَ تُـــــــركِهِ — إلاَّ رِياَ ضَةَ ٱمرئٍ بِفَكِّه[1]

که لوستونکې دغی دقیقی تلی ته زیان ورسوي او په اندازوکې کموالی او زیانوالی، په تلفظ کې تکلف او په لوستلو کې (د حق نه پیژندل) وکړی نو حرفونه به داسی بـــد اداء کړی چې اوریدونکې به له هغه څخه بیزاره او په پای کې به د تجویـــد موخـــه ضایع شي. شیخ مُقری علم الدین سخاوی په خپله نونیه قصیده کې وایې:

---

۱: ابوالحسن ؛ علی بن محمد بن عبدالصمد ، امام علامه مقری مفسر نحوی لغوی ؛ شافعی ، شیخ مشایخ قراء در دمشق به سال: ۷– ۵۵۸ هـــ ق در سخای مصر بدنیا آمد و بسال ۶۴۳ هـــ ق وفات یافت.

لاَ تَحسَبِ اُلتَّجوِيدَ مَدًا مُفرِطاً — اَومَـــــدَّ مَا لاَ مَدَّفِيــــه لِوَانِی[1]

أو أن تُشَدّ دَ بَعدَ مَدّ هَمـــزَةً — أَو أَن تَلُوکَ اُلحَرف کَالسَّکرَانِ[2]

أو أن تَفُوهَ بِکلمة مُتهَوّ عـــاً — فَیفِرَّ سَامِــعُهَا مِـــنَ اُلغَثَیَــــانِ[3]

لِلحَرفِ مِیزانُ فَلاَ تَکُ طَا غِیاً — فِیهِ، وَ لاَ تَکُ مُخسِرَ اّلمِـــیزَانِ[4]

**د تجوید حکم:**

ابن جزری د خپل کتاب په سریزه کې وایي:

والاَ خذُ بِاّ لتَّجوِیـــدِ حَتمٌ لاَزِمٌ — مَـــن لَم یُجَوّ دِ اّلقُـــــرانَ آثِمُ[5]

لکه څنگه چې وینو ابن جزری د تجوید زده کړه شرعی واجـــب او دهغـــه تـــرک کوونکې یی گناهکار بللی دی او زیات شمیر پوهانو او فقهاوو پر دغه قول بانـــدې اتفاق هم کړی دی، داځکه چې قرآن د تجوید سره یوځای را نازل شوی او رســـول الله صلی الله علیه وسلم هغه په جبرائیل علیه السلام باندې په هماغه ترتیب سره تیـــر کړی او کرامو اصحابو ته یی تعلیم ورکړی‌او په پای کې د نبوی سنتو په ډول بـــاقی پاتی شوي دی.

**د وجوب د لایل:**

۱ .الله تعالی فرمایی: « وَرَتّلِ اّلقُرءَانَ تَرتِیلاً »[6]

---

۱: ترجمه: گمان مبرکه تجوید کشیدن زیاد ، یا مد دادن چیزی است که مد ندارد.

۲: یا تشدید دادن همزه بعد از حرف مد ، یا جویدن حرف همچون مستان است.

۳: یا کلمه ای را به حالت تَهَوُّع تلفظ کنی که شنونده از آن حالت فرار کند.

۴: حرف دارای میزانی است که نباید در ان تجاوز کنی و یا از ان بکاهی.

۵: یاد گرفتن تجوید ، حتمی و لازم است ، و کسیکه قرآن را با تجوید نخواند گناهگاراست.

۶ دالمزمل سورت، ۱۴ آیت.

حضرت علی بن ابی طالب دضی الله تعالی عنه فرمایی: ترتیل د حروفو له تجوید او د وقف د جایونو ر پیژندلو څخه عبارت دی.

۲.الله تعالی فرمایی: « اَلَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلاَوَتِهِ »[۱] یعنی هغه څوک چې هغوی ته مو قرآن ورکړ، په حق سره هغه تلاوت کوی.

لکه څرنګه چې د قرآن په حکمونو باندې عمل د هغه د تلاوت د حقونو څخه دی همدارنګه د اداء حسن او نیکوالی هم د تلاوت د حقونو څخه ګڼل کیږي.

۳.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: « إِنَّ ٱللهَ يُحِبُّ أن يُقرَأَ ٱلقُرآنُ غَضًّا كَمَا أُنزِلَ » ژباړه: خدای پاک په تحقیق سره خوښوی چې قرآن لکه څرنګه چې نازل شوی هماغسی تازه ولوستل شي.

۴.د قرائت د تجوید دوجوب د دلایلو څخه یوهم هغه اثر دی چې امام سعید بن منصور[۲] په خپل سنن کې روایت کړی دی: «عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یوه سړی ته قرائت ورزده کاوه، هغه سړی « إِنَّمَا ٱلصَّدَقَاتُ لِلفَقَرآءِ وَالمَسَكِين » بی له مد څخه ولوست. ابن مسعود وویل: د خدای رسول صلی الله علیه وسلم دا ماته داسی ندی را زده کړی لکه چې تاسی ئی وایې. هغه سړی وویل: ای ابو عبدالرحمانه! هغوی څرنګه تاسی ته در زده کړی دی؟ ویې ویل: « لِلفُقَرَآءِ وَٱلمَسَكِينِ » د «للفقرآء» د کلمی د مد حرف ئی ډیر اوږد راوکیښ.»

۵.اوکه دا اثر، امام بخاری له انس(رض) څخه روایت کړی چې له هغه څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قرائت په برخه کې وپوښتل شول، هغه وویل: د

---

[۱] د البقرة سورت، ۱۲۱ آیت.

[۲] ابو عثمان سعید بن منصور بن شعبه مروزی په جوزجان کې دنیا ته راغی، په بلخ کې لوی شو، په مکه کې ئی ژوند کاوه او په هغه ځای کې وفات شو. هغه د حدیثو دلویو امامانو څخه او د سنن د کتاب خاوند دی. حَرب وایي: ما په کال ۲۱۹ هـ ق کې له هغه څخه حدیث ولیکل، هغه له یاده څخه نږدی لس زره حدیثه پر مونږ باندې املاء او وروسته ئی تصنیف کړل. د هغی وفات په کال ۲۲۷ هـ ق کې ؤ.

هغوی قرائت له مد سره ؤ. او وروسته ئی «بِسمِ اللهِ الرَّحمَنِ الرَّحیم» ولوستله، «الله» او «الرحمن» او «الرحیم» ئی له مد سره اوږده ولوستل[1].

٦. ډیر صریح دلیل پردی باندې چې د قرائت تجوید د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دی هغه حدیث دی چې امام ترمذی په خپل جامع کې له ام سلمه رضی الله تعالی عنها څخه روایت کړی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرائت په برخه کې وپوښتیدل شوه چې هغې د رسول الله صلی الله علیه وسلم قرائت داسی توصیف کړ گویا لکه چې هغه ئی حرف حرف وشمیره[2] اما ځینو پوهانو د تجوید د وجوب او دهغه د ترک کوونکې د گناهکاریدو په هکله ښه تفصیل ورکړی او تجوید ئی په دوو برخو ویشلی دی:

واجب:

دغه نوعه د هغو امورو څخه عبارت ده چې د تلفظ سموالی تر هغو پوری تړاو لري او هغو ته زیان رسیدل د کلمی بنسټ ته تغیر ورکوی او یایی معنی فاسدوی، لکه د حروفو د مخرجونو پیژندنه او څیړنه، او د هغو صفتونو سره پیژندگلوی کوم چې د ځینو حروفو سره تړاو لري، لکه: استعلاء او انطباق د «طاء» په توری او تفشي د «شین» په توری کې، او لکه د هغو حرفونو اظهار چې په کې اظهار کیږي، او د هغو حروفو ادغام چې په کې ادغام کیږي، او د هغو حروفو تفخیم چې په کې باید تفخیم وشي، او د هغو حروفو ترقیق چې په کې باید ترقیق وشي، او په هغو حروفو کې «مد» کړل کوم چې په هغو کې مد واجب دی، او د مد پریښودل په هغو حروفو کې چې د هغو قصر لازم دی، او د هغو په شان د کلمی تر صیغی پوری متعلق حکمونه چې که څوک پدی نوعه امورو کې خلل وارد کړی، په واجب کې یی خلل وارد کړی او گناهکار دی.

---

[1] صحیح البخاری، کتاب فضائل القران، باب مد القراءة. وفتح الباری د بولاق چاپ: ٧٩/٩.

[2] د ترمذی جامع، ابواب فضائل القران. وتحفة الحوذی د ترمذی شرح، دهند چاپ، ۵٦/۴.

دقرآن په هر لوستونکې باندې لازم ده چې داقسم د خپل توان په اندازه پــه ځــای راوړی او خپل نهایی کوښښ د هغه د تصحیح او اتقان لپاره په کار واچوی تر څــو چې د خدای په کتاب کې د تحریف او تبدیل د پیښیدو څخه په امان کې پاتی شي.

صناعی:
دغه قسم تجوید د سم نطق د اتقان تر مهارت پوری د لاندې امورو په پام کې نیولو سره تعلق لري:

دصفتونو او حکمونو نهایی څیړنی ته رسیدل.

د مدونو د دقیق مقدار ضبط په هغه انداوه سره چې حتی نیمه درجــه کمــی او زیاتی ونلری، ځینی قاریان د دغی نه لازیاته سنجونه کوی او د درجــی د څلــورمی برخې کمی او زیاتی ترمینځ تو پیر په پام کې نیسی.

د دقیقو ماناګانو په پام کې نیول کوم چې یوازی د قرآن پوهنی ماهران هغه تــر سره کولای شي، د دغو امورو څخه سر غړونه کوم خلل نه پیدا کوی نو پر د دغــه علم د اسرارو څخه دی او یوازی ماهران کولای شي هغه تر سره کړی.

جلی الحسن او خفی الحسن:
لحسن په زیات شمیر ماناګانو سره راغلی او پدی ځای کې د هغه څخه مقصــد پــه لوستلو کې خطاء ده، لحسن د قاریانو له نظره پر دو نوعــه دی: جلــی او خفــی (ښکاره او پټ).

جلی الحسن:
جلی الحسن د هغه تیروتنی څخه عبارت دی کله چې پر لفظ باندې داپیښ شي یــو ښکاره خلل د کلمی پر اصل باندې وارد کړی، د هغه په پیژندنه کې د قرائت پوهان او عام خلک شریک دی که بل حرکت او یایو توری پر بل توری باندې تبدیل کړی،

د مثال په ډول «تاء» ته په « أنعَمتَ عَلَيهِم » کې ضمه، یا په « مَاقُلتُ لَهُم » کې کسره او یا فتحه ورکړی. دغه له هغو انواعو څخه دی چې مانا فاسدوی.

اویا په « اَلحَمدُ للهِ رَبِّ العلمينَ » کې د «الله» «هاء» ته ضمه او د «رب» «یاء» ته فتحه ورکړی، یا په « لَم يَلِد و لَم يُولَد » کې مجزومی کلمی ته حرکت ورکړی. دغه د هغو ځایونو څخه شمیرل کیږي چې د کلمی اصل ته خلل پیښنوی خو مانا نه فاسدوی.

او یا په « اَلطَّامَّةُ اَلكُبرى » کې «طاء» د هغه د انطباق او استعلاء په پریښودلو سره په «تاء» باندې تبدیل کړی. د جلی الحسن د جملی څخه دا لاندې موارد دی:

١. د طبیعی مدونو پرښودل لکه د «قال»، «انّانحن»، « وَ اَلضُّحَى وَ اَلّيلِ إذا سَجَى » په ډولونو کې چې د هغی په پای کې د حرف ذات له بین څخه ځی.
٢. د اظهار په ځایونو کې د هغه پریښودل.
٣. د ادغام په ځایونو کې د هغه پریښودل.
٤. د واجب او لازم مدونو قصر.
٥. د هغو حرفونو تفخیم چې باید ترقیق شي.
٦. د هغو حرفونو ترقیق چې باید تفخیم شي.
٧. قبیح وقف کوم چې په هغه کې د مانا فساد ظاهر او ښکاره دی، لکه چې د توحید د کلمی په منفی برخه باندې وقف وکړی، دمثال په ډول: « فَاْعلَم أَنَّهُ لاَ إلهَ ... إلاَّ اَللهُ ».

**جفی الحسن:**

خفی الحسن د هغه خطاء څخه عبارت دی چې د تلفظ تر بشپړ اتقان پوری تړلی نه د هغی تر تصحیح پوری، او یوازی د تجوید دفن ماهران هغه پیدا کولای شي او د عامو خلکو څخه پټ پاتی کیږي، لکه:

۱.د مدونو د مقدار تر نيمی درجی نه زيات يا کم پوری نه مراعات کول، اويا په يوه وار قرائت کې ديوی نوعی مد، نه برابرتيا، لکه چې منفصل مد په يــوه ځــای کــې متوسط او په بل ځای کې مقصور وګرځوی.

۲.دصفتونو په پالنه او د حکمونو په کارولو کې د مهارت کموالی، لکه

د «راء» د تکرير د صفت زياتول.

په «نو نو نو» کې د طنين اچول.

د «لامونو» غليظ کول د هغو د ځايونو څخه به غير او.....

هغه څوک چې د جلی الحسن مرتکب وګرځی، قرائت يی سم ندی، او نبنائی چې د هغه په امامت سره امونځ اداء کړای شي، او که بی پرواېي او ټنبلــی د هغــه لامــل ګرځيدلی وی ګناهکار دی. اما هغه څوک چې په خفی لحسن کې واقع شي حکم يي ډير آسانه دی، او يوازی د تجويد اهل هغه د قرائت د اتقان مخل بولي، لمونځ کړل د هغه پر امامت سره صحيح دي.

شيخ الاسلام ابن تيميه[۱] رحمة الله وايې:

د علم طالبانو ته مناسبه نده د هغه چاپه امامت سره لمونځ اداء کړی کوم فاتحه سمه نه لولی او په جلی الحسن کې په تللو سره يوه توری اويا يوه حرکت ته تغير ورکوی، اما هغه څوک چې د حفی الحسن په تيروتنو کې لويږي او کومه وجهه په هغو کــې ولري، لمونځ يی باطل ندی او نه د هغه په «الصراط» کې «صياد» په «سين» ســره ووايې، ځکه هغه هم متواتر قرائت دی.

---

[۱] ابوالعباس احمد بن عبدالحليم بن عبدالسلام ــ ابن تيميه ــ شيخ الاسلام تقی الدين، دلويو پوهانو لــه جملی، د اسلام مجاهد او د حنبلی مذهب له فقهاؤ څخه په کال ٦٦١ هــ ق د شام په حران کې دنيا ته راغلی، له هغه ځای څخه د مشق ته لاړ، د علم طلب او د حديثو اوريدنه يی وکړه، په کال ۷۲۸ هــ ق کې په جيل کې مړ شو.

**تمرين:**

۱. د تجويد لغوی او اصطلاحی مانا ووايې.
۲. د «حرف حق او دهغه مستحق» څخه مقصود څــه دی؟ او د هــر حــرف حالتونه ووايې.
۳. د تجويد د علم د زده کړی څخه موخه څه ده؟
۴. تجويد په دوو نوعو صناعی او طبيعی باندې ويشل کيږي، هريــو شــرحه او حکم يی بيان کړی.
۵. لاندې حکمونه د تجويد د دوو نوعو په کومه يوه کې شامليږي؟: د مخرجونو پيژندل، د صفتونو پيژندل، اظهار، د واجب مد ادغام، حســنی او جــائزی وقفی، ترقيق، تفخيم، دلامونو ترقيق او يا دهغو تفخيم.
٦. لحسن په کومه معنی سره راغلی، په څو قسمه او د هر يوه حکم کوم دی؟
۷. دا لاندې ځايونه د لحسن د کومی يوی نوعی څخه دی؟: « صِــراطَ ٱلّــذِينَ أنعَمتَ عَلَيهِم » که څوک د «تاء» په ضمی سره ووايې.

«فرعون وملائه» که د «راء» په تفخيم سره ولوستل شي.

«جائتِ الطامة» که «طاء» د هغه د انطباق او استعلاء په پريښودلو سره «تــاء» تلفظ کړای شي.

« أُولَئِکَ هُمُ ٱلفآئِزُونَ » که قاری واجب مد په «اولئک» او «الفــائزون» کــې اداء نکړی.

« لَقد كفَرَ ٱلّذِّينَ قَالُوآ إنَّ ٱللهَ ثالثُ ثَلَثة » که څوک په «قالوا» باندې وقف او په وروسته باندې يی ابتداء وکړی.

# دریم لوست

# د «البقرة» سورت د لومړی رکوع قرائت

# (۷-۱ آیتونه)

**موخې:**

**الف:** د هغه عملی او سم قرائت سره بلدیتا کوم چې د استاد لخوا په ټولگی کې وړاندی کیږي او محصلین وروسته په نوبت سره هغه په وار وار سره وایې.

**ب:** د استاد له خوا د محصلینو د قرائت د کمزورتیا په گوته کول او د هغه د سموالی د لارو لټول.

**ج:** د استاد او محصلینو د فعالیت په نیتجه کې د محصلینو د قرائت سمول.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

(۱)الم (۲) ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ (۳) الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ (۴) والَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (۵) أُوْلَئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ(٦) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ (۷)خَتَمَ اللّهُ عَلَى قُلُوبِهمْ وَعَلَى سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عظِيمٌ.

د تیر شوي لوست حکمونه کیدای شي د بر سیره مبارکو آیتونو په تورو او حکمو کې د استاد د مثالی او محصلینو د نوبتی قرائت په ترڅ کې په لاندې ډول سره عملی شي:

**الف:** که استاد هر کله ذکر شوي آیتونه د تجویدی قاعدو پر بنسټ د حرفونو د مخرجونو، متضاده او غیر متضاده صفتونو، د «لامونو» راء، ساکن نون او تنوین، مدونو، وقفونو د اقسامو د حکمونو په پام کې نیولو سره په مثالی ډول قرائت او په اجمالی توگه د ذکر شویو موضوعگانو په برخه کې محصلینو ته لنډ معلومات ورکړی

او وروسته له محصلینو څخه وغواړی ترڅو د ده د قرائت په رڼا کې په دریم پړاو کې هر یو په نوبت سره د هغه په لوستلو مکلف او د هر محصل د قرائت په پام کې هغه خپلو تیروتنو ته چې د لوستلو په ترڅ کې یی کړی دی متوجه او په سم او معیاری ډول یی په خپله استاد یا محصل د پوښتنو په کولو او د ځوابونو په اخیستلو سره بیان کړی نو عملی ښی پایلی به لاس ته راوړلی شي.

ب: د مثال په ډول په ذکر شویو آیتونو کې هغه تجویدی حکمونه ور وپیژنی کوم چې پر قاری باندې د هغو په پام کې نیول واجب او دنه مراعات په صورت کې مانا فاسدیږي لکه چې په تیرشوي لوست کې د اوؤ فقرو په ترخ کې بیان شول.

ج: ذ هغو حکمونو په گوته کول کوم چې د قرائت تر اتقان پوری اړیکې لري، مراعات کول یی تر ماهرو قاریانو پوری اړه لري او که مراعات نشي د مانا د فساد لامل نگرځی، د مثال په توگه د متصل او منفصل مدونو د مقدار او د جائز وقفونو پریښودل، د حرفونو د ځینو مخرجونو او صفتونو په پام کې نه نیول کوم چې پر عوامو د وجوب حکم نلری او صناعی بلل کیږي.

د: دجلی او خفی لحسن پیژندل کوم چې په تیر شوي لوست کې له هغه څخه یادونه وشوه. جلی لحسن په قرائت کې د آیتونو د کلمو او جملو په مانا کې د خلل د پیدا کیدو لامل گرځی او دیو زیات شمیر فقهاؤ دفتوی پر بنسټ د هغه د مرتکب تر امامت لاندې لمونځ کول جواز نلری. اما په خفی لحسن کې حکم بل شانته دی او د مرتکب تر امامت لاندې یی لمونځ کول هم روا دی. د جلی لحسن مثال په «ذلک الکتابُ» کې د «باء» په فتحه او یا کسره سره قرائت کول، د خفی لحسن مثال په «ابصارهم» کې د «صاد» په «سین» سره تلفظ کول او یا د«بما انزل الیک وما انزل من قبلک» په کلمو کې د مدونو په تفاوت سره کښول څرنگه چې په یوه کې د پنځو الفو او په بله کې د دریو الفو په اندازه مدکښ کړای شي. که د «المتقین» کلمه د «المتقون» په ډول سره ولوستل شي نو قاری یی د جلی لحسن مرتکب گڼل کیږي او قرائت ئی سم ندی. همدارنگه د ذکر شویو آیتونو په نورو کلمو کې هم کیدای شي د

تیر شوي لوست حکمونه تطبیق او عملی کړای شي او محصلین د هغو څخه لازمـــه پوهه لاس ته راوړی.

# څلورم لوست

## اصلی او فرعی توري او د هغوی مخرجونه

**موخی:**

**الف:** د «لسانی، حلقی، شفوی او غنوی» حروفو او د هغو د مخرجونو پیژندنه.

**ب:** په ذکر شویو مخرجونو کې د حروفو د دقیق تلفظ څخه پوهه تر لاسه کیدل ترڅو هر توری د بل پر پرتله وپیژندل شي.

**ج:** دیوه مخرج د تورو دبل مخرج د تورور سره په تلفظ کې د اشتباه او التباس د پیښیدلو څخه مخ نیوی.

**د:** د ذکر شویو آیتونو د تکرار په ترڅ کې چې د هر یوه محصل لخوا تر سره کیږي د قرائت د استاد لپاره د ذکر شویو تورو په خپله مخرجونو کې د تلفظ د سموالی څخه د اطمینان حاصلیدل.

**دحروفو مخرجونه:**

(لسانی، حلقی، شفوی او غنوی حرفونه او د هر یوه ځای)

مخ کې لدې څخه چې د تورو مخرجونه بیان شي لازمه ده چې توري د اصلیت او فرعیت له پلوه و پیژنو:

**اصلی توري:**

د اصلی تورو شمیر اته ویشت دی، دا په هغه صورت کې چې ممدوده لینه الف د «همزی» فرع وبولو اما که هغه مستقل توري وشمیرو نو بیا د اصلی تورو شمیر نه ویشت کیږي او ځینی د تجوید پوهان په هغه نظر دی او اتفاق لري کوم چې په لاندې شعر کې راغلی دی:

وعدة اَلحُروف للــهجَاءِ    تسعُ وَ عشرُونَ بِلاَ اَمتراء
اَوَّلُها اَ لهَمزةُ لكِن سُمِّيت    بِألِف مَجَازاً إذقَد صُوِّرَت[1]

دا له هغه ځایه ښخه ده چې همزه او لینه الف هریو د «الف» په نامه یادوی اود دوی دواړو په منځ کې د توپیر لپاره «الف» په لینه ؛، جوفیه، ممدوده، او ضــعیفه ســره ستایي. مکې بن ابی طالب، ابن جزری او یو زیات شمیر قاریان په همدی نظر دي.
شایی هغه څه چې د دی لامل گرځیدلی چې هغوی جوفیه الف اصلی توری وبولی او دارنگه نظر د جوفی «واو» او «یاء» په برخه کې ونلری، داوي چې د دغو دوو تورو غږ د جوف او د «واو» او «یاء» د اصلی مخرج ترمینځ مشترک دی په داسی توگه چې د دی مخه یی نیولی چې مستقل وشمیرل شي.

**فرعی توري:**

د اصلی تورو څخه پرته فرعی توري هم شته دی، د هغو د پیژندلو ښه ضابطه داده چې ووایو: فرعی توری هغه توری دی چې د دوو مخرجونو په مینځ کې مستردد اوســی.
ابن جزری په «النشر» نومی کتاب کې آته فرعی توري یاد کړی چې عبارت دی له:
۱. «تسهیل شوی بین بین همزه» یعنی هغه «همزه» چې د «همــزه او الــف» یــا د «همزه او واو» ترمینځ تلفظ کیږي.
۲. «اما له شوی الف» یعنی هغه الف چې «یاء» ته مایل تلفظ کیږي.
۳. «په زاء سره گډ شوی یاء» لکه په «الصراط» او «اصدَقُ» کې چې پــه ځینــو قرائتونو کې د «زاء» د غږ سره گډ تلفظ کیږي.
۴. «په واو سره اشهام شوی یاء» لکه په «قیل» او «غِیض» کې چې د واو د غږ سره گډه تلفظ کیږي.

---

[1]: تعداد حروف الفبا بدون شک بیست و نه است اولین آنها همزه است ، لکن بعلت اینکه به صورت الف نوشته می شود ، مجازا الف نامیده می شود.

۵. «تفخیم شوی الف» چې هر کله د مفخیم توری څخه وروسته راشي تفخیم کیږي که څه هم په اصل کې د ترقیق د تورو څخه دی.
٦. «تفخیم شوی لام» په اصل کې ترقیق کیږي، اما کــه تفخــیم شــي نــو «واو» ته نژدی کیږي.
۷. «اخفاء شوی نون» چې د وروستنی توری له غږ سره ګډ تلفظ کیږي.
۸. «اخفاء شوی میم» د نون په شان دی، دا دواړو توری د اخفاء په وخــت کــې ناقص تلفظ کیږي.
د حفص په روایت قرائت پردی ټولو تورو وییل شوی مګر «صاد» د «زاء» سره ګډ تلفظ کیږي..

**مخرج:**

د مخرج څخه مقصود د خولی او حلق څخه د تورو د وتلو ځــای دی. محققینــو د تورو د مخرجونو شمیر «اوولس» ګڼل دی. خلیل بن احمد[1] پردی قول باندې تاکید کړی او ابن جزری هغه ته ترجیح ورکړی ده.
سیبویه[2] او یا رانویی د مخرجونو شمیر «شپاړس» بللی دی دا ځکه چې د دوی په نظر جوفی «الف» او «همزه» دیوه مخرج څخه تلفظ کیږي.
فراء[1] او یاران یی وایې چې د مخرجونو شمیر «څوارلس» دی، دا ځکه چــې د دوی په نظر د «لام، نون او راء» مخرج یو دی.

---

[1] ابو عبدالحمن خلیل بن احمد بن عمر بن تمیم بن فراهیدی بصری د نحویانو مشر او هغه لومړی کــس چې عروض یی استخراج کړی او د سیبویه استاد دی، او سیبویه د خپل کتاب ډیری مسألی د ده څخــه روایت کړی دی، خلیل په کال ۱۷۵ هــ ق کې وفات شوی دی.

[2] ابو بشر عمرو بن عثمان بن قنبر د بصریانو مشر، په اصل کې فارس دی او په بصره کې لوی شوی، پــه نحوکې د مشهور کتاب خاوند، په کال ۱۸۰ هــ ق د شیراز پع بیضاء کې د دو دیرش کلنی پــه عمــر وفات شوی دی.

په کلی توګه مخرجونه په پنځو ځايونو کې موجود دی:
(د خولی جوف، ستونی، ژبه، شونډی او خيشوم)

**د خولی جوف:**

د جوف څخه مقصود د حلق (ستونی) څخه تر خولی پور غزيدلی فضاء ده پر دی بنا دغه يو غير محدود مخرج دی او دهغه څخه دا لاندې دری توری تلفظ کيږي.

لينه «الف».

ساکن «واو» چې مخ کې له هغه څخه ضمه وی.

ساکنه «ياء» چې مخ کې له هغه څخه کسره وی.

دغه توری د سګيو څخه د ساد ايستلو سره يو ځای تلفظ کيږي او د خولی څخه بيرون د غږ تر پری کيدو پوری دوام مومی، لکه څرنګه چې د دغو تورو غږ دغه مخرج ټول په برخه کې نيسی او په تلفظ کې يی کوم مشقت نه احساس کيږي نو د دغی وجهی په خاطر د «مد اولين» توری نومول شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللّهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَادِعُونَ اللّهَ
وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلاَّ أَنفُسَهُم وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ
اللّهُ مَرَضاً وَلَهُم عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُواْ فِي
الأَرْضِ قَالُواْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِن لاَّ يَشْعُرُونَ
﴿١٢﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُواْ كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُواْ أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاء أَلا إِنَّهُمْ هُمُ
السُّفَهَاء وَلَكِن لاَّ يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ قَالُواْ آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْاْ إِلَى

---

[1] ابو زکريا يحيى بن زياد بن عبدالله بن مروان ديلمی په فراء باندې معروف، د کسائی څخه وروسته په نحو کې د کوفيانو لوی پوه، په کال ۲۰۷ هــ ق کې وفات شوی دی.

شَيَاطِينِهِمْ قَالُواْ إِنَّا مَعَكْمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِؤُونَ ﴿١٤﴾ اللّهُ يَسْتَهْزِىءُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِي
طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرُوُاْ الضَّلاَلَةَ بِالْهُدَى فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ
وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَاراً فَلَمَّا أَضَاءتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ
اللّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لاَّ يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لاَ يَرْجِعُونَ
﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصْابِعَهُمْ فِي آذَانِهِم
مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ واللّهُ مُحِيطٌ بِالْكافِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ
كُلَّمَا أَضَاء لَهُم مَّشَوْاْ فِيهِ وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُواْ وَلَوْ شَاء اللّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ
وَأَبْصَارِهِمْ إِنَّ اللَّه عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي
خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء
بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً
وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٢﴾ وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ
وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ
فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِين آمَنُواْ
وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ
رِّزْقاً قَالُواْ هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهاً وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا
خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلاً مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا فَأَمَّا الَّذِينَ
آمَنُواْ فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُواْ فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَذَا مَثَلاً
يُضِلُّ بِهِ كَثِيراً وَيَهْدِي بِهِ كَثِيراً وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلاَّ الْفَاسِقِينَ ﴿٢٦﴾ الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ
اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الأَرْضِ أُولَئِكَ هُمُ
الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتاً فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ
إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاء
فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي
جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ
بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ صدق الله العلى العظيم.

# پنځم لوست

## د تورو د مخرجونو په اړوند د غاښونو، شنډو، خیشوم او حلق پیژندنه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې

**موخې:**

**الف:** د هغو غاښونو سره بلدتیا کوم چې د هغوی سره په تماس کې د هجاد لسانی مخرجونو د ځینو توزیو اداء تر سره کیږي.

**ب:** د شفوی تورو پیژندنه چې د تلفظ په وخت کې د شنډو سره ارتباط نیسی.

**ج:** د غنوی تورو سره بلدتیا او د هغوی اړیکه د خیشوم (د پوزی بیخ) سره چې مخرج یی دی.

**د:** د حلقی تورو پیژندنه چې اداء کیدل یی د حلق تر لمرې، منځنی او آخری برخې پورې تعلق نیسی.

**هـ:** د استاد لپاره د ذکر شویو آیتونو د سم تلفظ څخه اطمینان حاصلیدل کوم چې په نوبت سره د محصلینو لخوا قرائت کیږي.

**و:** د محصلینو د تلفظ د اشتباګانو او التباسونو د منځه وړل د استاد د عملی قرائت او د محصل د مثالی قرائت په مرسته.

**۱. حلق (ستونی):**

په حلق کې دری مخرجونه موجود دی:

**الف:** د حلق آخر یعنی د سینی خوا ته آخر چې د «همزی او هاء» مخرج دی.

**ب:** د حلق اول یعنی خولی ته ډیره نژدی برخه چې «غین او خاء» د هغه څخه تلفظ کیږي.

**۲. ژبه:**

**په ژبه کې لس مخرجه دی چې په ترتیب سره عبارت دی له:**

**الف: د ژبی آخر یعنی د حلق (ستونی) خواته آخر چې د هغه او د سقف (د خولی پورتنی تالو) د آخر څخه «قاف» تلفظ کیږي.**

**ب: د قاف د مخرج څخه وروسته د «کاف» مخرج قرار لري لکن د اداء ځای یی لږ د خولی طرف ته نژدی دی.**

**ج: د ژبی منځ د خولی د سقف د منځ سره، او دهغه ځای څخه دری توری (جیم، شین او یاء) تلفظ کیږي.**

**د: د ژبی د آخر شا د مخکینیو برسیره غاښونو د بیخ سره په نیښلولو، یعنی د هغو اوریو برخی سره کومی چې مخکینی غاښونه په کې ژور تللی دی.**

**د تجوید ځینی پوهان د هغه مخرج څخه د (ژبی د آخر شا) په عبارت سره یادونه کوی تو د هغوی قصد د ژبی آخر د شا په طرف دی.**

**د دغه مخرج څخه دری توری (طاء، دال او تاء) تلفظ کیږي، «طاء» په انطباق او د خولی د سقف (برسیره تالو) لوری ته د ژبی په پورته تللو سره، او «دال او تاء» د ژبی د پورته تللو څخه پرته.**

**هـ: د ژبی د آخر شا د مخکینیو برسیره غاښونو د نوک سره په نیښلولو، چې له هغه څخه «طاء» د ژبی د پورته تللو څخه پرته.**

**و: د ژبی آخر د مخکینیو برسیره غاښونوو د بیخ سره په نیښلولو، د دغه مخرج څخه «نون» تلفظ کیږي.**

**ز: همداغه تیر مخرج لکن د ژبی شاته لږ نیژدی او د مخکینیو غاښونو سره د نیښلولو څخه پرته اما هغوی ته ډیر نیژدی چې قریب وی ونیښلی او دا د «راء» مخرج دی.**

**ح: د ژبی نوک یعنی هغه برخه چې د شنډو طرف ته ده، د مخکینیو غاښونو طرف ته په نیژدیوالی سره تردی حده چې قریب وی ورسیږه نیښلی اما لږ واټن پاتی کیږي ترڅو هوا او غږ له هغه څخه تیر شي.**

د: دغه مخرج ځخه دری توری (صاد، زاء او سین) تلفظ کيږي د دغی نکتی په نظر کې نیولو سره چې « صاد» د ژبی د پورته تللو سره جوخت تلفظ کيـــږي او «زاء او سین» د هغه د پورته تللو ځخه پرته.

ط: د ژبی خوا یعنی یو د دوو خواوو د ژبی د ژوونکو غاښونو سره یو ځای کوم چې د هغو په برابر کې موقعیت لري. کولای شو چې د ژبی ښی او یا کیڼ طرف د موازی غاښونو سره او یا دواړه لوری د دواړو و طرفونو سره ونیښلولو. د دغه مخرج ځخه چې د ډیرو سختو مخرجونو ځخه دی «ضاد» تلفظ کیږي. ابوشامه[1] نقل کړی چـــې حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه بـــه «ضـــاد» د ژبـــی د دوو خـــواوو ځخـــه تلفظ کاوه.

ی: مخ طرف ته د ژبی خوا: دغه مخرج د «ضاد» د مخرج سره نژدی د ژبی د خوا سره پیل شوی او مخکې طرف ته تر آخره پوری ادامه لري یعنی د ربـــاعی او نـــیښ غاښونو په برابری، د ژبی خوا په دغه اندازه سره دننه ځخه د دغو غاښونو سره نیښلی ترڅو د هغه ځخه «لام» تلفظ کيږي.

د تورو د مخرجونو ځخه دغه مخرج د ټولو په پرتله فراخ دی. ابو عمرودانی وایې: د «لام» مخرج د مخکینیو غاښونو سره د ژبی د خوا په نیښلولو سره منځ ته راځـــي لکن ځرنگه چې په «لام» کې انحراف صفت موجود دی، قاری د تلفظ په وخت کې د خپلی ژبی خوا په دومره اندازه سره غوله وي چې نژدی وي د «راء» د مخرج سره ونیښلی د دی له کبله یی گمان کړی دی چې د لام مخرج د غوټولوته شـــامل دی. مخکې مو وویل: فراء د دریو (لام، راء او نون) مخرج یو بولی یعنی د ژبی آخـــر د مخکینیو غاښونو د بیخ په نیښلو سره.

په تأمل سره گورو چې د دغو تورو مخرجونه ډیر دیوه او بل سره نژدی دی.

---

[1] ابوالقاسم عبدالرحمن بن اسماعیل بن ابراهیم بن عثمان مقدسی شافعی په ابو شامه سره معروف، امـــام، علامه، د خپلی زمانی یوازنی پوه او د ګڼ شمیر تألیفاتو خاوند. هغه په کال ٥٩٩ هـــ ق کې زیږیدلی او په کال ٦٦٥ هـــ ق کې وفات شوی دی.

**۳. شونډې:**

په شونډو کې دوه مخرجه موجود دي:

**الف:** د لاندې شونډې غیته د پورته مخکینیو غاښونو د نوک سره په نیښلولو چې د «فاء» مخرج دی، پدی شرط سره چې د غاښونو د نوک نیښلول ډیر کلک نوی ترڅو پریږدي هوا د دوی ترمنځ تیره شي.

**ب:** د دوو شونډو په منځ کې: د دی مخرج څخه «واو» د شونډو د نیښلولو څخه پرته تلفظ کیږي. «میم او باء» د شونډو په انطباق (نیښلولو) سره تلفظ کیږي.

**۴. خیشوم:**

خیشوم د پوزی د نرمی د آخر څخه عبارت او د «غنی» مخرج دی. غنه د تورو د صفاتو څخه ده اما د هغه د مخرج د استقلال له امله په دی باب کې له هغه څخه یادونه کیږي، ځکه چې د هغه مخرج د « نون او میم» د مخرج څخه چې غنه د هغوی د صفاتو څخه جدا دی.

غنه په نون او میم کې د تشدید، اخفاء او داغام په زیات شمیر صورتونو کې په ډاګه کیږي.

**غاښونه:**

له هغه ځایه څخه چې غاښونه د تورو د مخرجونو سره ټینګه اړیکه لري نو مناسبه ده یو څه د هغوی په برخه کې هم خبری وکړو:

د انسان د غاښونو شمیر په نهایی رُشد کې دو دیر شو ته رسیږي چې په لاندې ډول سره نومول او ویشل کیږي:

۱. ثنایا (مخکینی غاښونه) چې شمیریې څلور، دوه په لوړه او دوه په ټیټه اوری کې.

۲. رباعیات (د مخکینیو غاښونو په دواړو خواوو کې یویو) چې څلور غاښه کیږي.

۳. انیاب (نیښ غاښونه) چې شمیر یې څلور دی.

۴. ضواحک (د نیښ غاښونو په خواوو کې یویو) چې څلور غاښه کیږي او د لومړی یو ژوونکو غاښونو څخه دی.

۵. طواحن (ژوونکې یا د ژرندی غاښونه) د ضواحکو په خواوو کې دری دری چې غونډ دوولس غاښه کیږي.

٦. نواجد (د عقل غاښونه) آخری ژوونکې او د ژرندی غاښونه، د طواحنو په خواوو کې یویو چې ټول څلور غاښه کیږي.

## بِسۡمِ اللَّهِ الرَّحۡمَنِ الرَّحِيم

وَإِذۡ قَالَ رَبُّکَ لِلۡمَلاَئِکَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرۡضِ خَلِيفَةً قَالُواۡ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِکُ الدِّمَاء وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِکَ وَنُقَدِّسُ لَکَ قَالَ إِنِّي أَعۡلَمُ مَا لاَ تَعۡلَمُونَ ﴿۳۰﴾ وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسۡمَاء كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى الۡمَلاَئِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسۡمَاء هَؤُلاء إِن كُنتُمۡ صَادِقِينَ ﴿۳۱﴾ قَالُواۡ سُبۡحَانَکَ لاَ عِلۡمَ لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمۡتَنَا إِنَّکَ أَنتَ الۡعَلِيمُ الۡحَكِيمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئۡهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡ فَلَمَّا أَنبَأَهُمۡ بِأَسۡمَآئِهِمۡ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّکُمۡ إِنِّي أَعۡلَمُ غَيۡبَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرۡضِ وَأَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ﴿۳۳﴾ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلاَئِکَةِ اسۡجُدُواۡ لآدَمَ فَسَجَدُواۡ إِلاَّ إِبۡلِيسَ أَبَى وَاسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ الۡکَافِرِينَ ﴿۳۴﴾ وَقُلۡنَا يَا آدَمُ اسۡکُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُکَ الۡجَنَّةَ وَكُلاَ مِنۡهَا رَغَداً حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلاَ تَقۡرَبَا هَذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الۡظَّالِمِينَ ﴿۳۵﴾ فَأَزَلَّهُمَا الشَّيۡطَانُ عَنۡهَا فَأَخۡرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلۡنَا اهۡبِطُواۡ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمۡ فِي الأَرۡضِ مُسۡتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ ﴿۳٦﴾ فَتَلَقَّى آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿۳۷﴾ قُلۡنَا اهۡبِطُواۡ مِنۡهَا جَمِيعاً فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلاَ خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلاَ هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِينَ كَفَرواۡ وَكَذَّبُواۡ بِآيَاتِنَا أُولَئِکَ أَصۡحَابُ النَّارِ هُمۡ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۳۹﴾ يَا بَنِي إِسۡرَائِيلَ اذۡكُرُواۡ نِعۡمَتِيَ الَّتِي أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواۡ بِعَهۡدِي أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّايَ فَارۡهَبُونِ ﴿۴۰﴾ وَآمِنُواۡ بِمَا أَنزَلۡتُ مُصَدِّقاً لِّمَا مَعَكُمۡ وَلاَ تَكُونُواۡ أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلاَ تَشۡتَرُواۡ بِآيَاتِي ثَمَناً قَلِيلاً وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿۴۱﴾ وَلاَ تَلۡبِسُواۡ الۡحَقَّ بِالۡبَاطِلِ وَتَكۡتُمُواۡ الۡحَقَّ

وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿٤٣﴾
أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾
وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلاَّ عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم
مُّلاَقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿٤٦﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ
عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً
وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِذْ نَجَّيْنَاكُم مِّنْ
آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءكُمْ وَفِي ذَلِكُم
بَلاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ
تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ
ظَالِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ آتَيْنَا
مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ
ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُواْ إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نُّؤْمِنَ
لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنَاكُم مِّن بَعْدِ
مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى
كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَكِن كَانُواْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذْ قُلْنَا
ادْخُلُواْ هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُواْ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَداً وَادْخُلُواْ الْبَابَ سُجَّداً وَقُولُواْ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ
لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُواْ قَوْلاً غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ
فَأَنزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ رِجْزاً مِّنَ السَّمَاء بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾ وَإِذِ اسْتَسْقَى
مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً قَدْ عَلِمَ كُلُّ
أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُواْ وَاشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾ صدق
الله العلى العظيم.

**تمرين:**

۱. په عام ډول سره د مخرجونو ځايونه بيان او ووايې چې په هر يوه ځای کې څو مخرجه موجود دی؟

۲. د لاندې تورو، هر يوه مخرج تعين کړی:

(ضاد، زاء، سين، صاد، شين، قاف، کاف، هاء، باء، فاء، لام، طاء)

۳. ووايې د لاندې مخرجونو څخه کوم توری تلفظ کيږي؟:

د حلق (ستونی) منځ، د ژبی منځ، د دواړو شونډو له منځ څخه د نيښليدو پرته.

۴. آيا دا دری (لام، راء، نون) توری له يوه مخرج څخه تلفظ کيږي.

۵. خيشوم چيرته؟ او د څه شي مخرج دی؟

٦. آيا کولای شي په عربی کې د «واو» د تلفظ تو پير په فارسی کې د هغه د تلفظ سره ووايې؟

۷. آيا مطمئن يا ستی چې «ضاد» د هغه د مخرج څخه تلفظ کوی؟

۸. حلقی توری څو او د هغو مخرجونه په څو برخو سره ويشل کيږي؟

۹. شفوی (شونډو) توری د هغوی د مخرجونو سره شرحه کړی؟

۱۰. هغه توری کوم دی چې د تلفظ په وخت کې د پورته مخکينيو غاښونو د بيخ او يا نوک سره تماس نيسی؟ شرحه ئی کړی.

۱۱. هغه کوم توری دی چې د تلفظ په وخت کې د ټيټو مخکينيو غاښونو د بيخ سره تماس نيسی؟ وضاحت ورکړی.

# دوهم فصل

# د تورو متضاده او غیر متضاده صفتونه

## لمړی لوست

## (جهر، همس، شدت او رخوت) د تورو متضاده صفتونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې

**موخې:**

**الف:** د متضاده صفتونه پیژندنه لکه (جهر، همس، شدت، رخوت او بین توری)

**ب:** د تلفظ په حالت کې د متضاده صفتونه د مراعات کولو په واسطه د هجاد تورو دیوه او بل سره د بیلوونکو نکتو څخه پوهه حاصلول په خاص ډول هغه توری چې یو مخرج لري.

**ج:** د هغوی تورو څخه پوهه لاس ته را وړل کوم چې د شدت او رخوت په منځ کې منځنۍ تلفظ لري او د «بین بین» تورو په نامه سره یادیږي.

**د:** دیاد شوو آیتونو د لوستلو په ترڅ کې د هغو تورو د سم تلفظ په برخه کې اطمینان حاصلول کوم چې د ذکر شویو صفتونو خاوند دی.

**هـ:** دهغه اشتباهگانو او التباسونو لیری کول کوم چې د هم مخرج تورو د تلفظ په وخت کې د ذکر شویو صفتونه د نه رعایت په صورت کې پیښیږی.

**و:** دمحصلینو لپاره د متضاده صفتونه دیوه او بل سره د پرتلی د توان پیدا کیدل د قوت، ضعیف، د غږ جکوالی او د داسی نورو په برخه کې.

**د تورو متضاده صفتونه:**

مخکې له دی څخه چې د تورو د متضاده او غیر متضاده صفتونه سره بلد شو ښه ده په خپله د تورو صفت و پیژنو.

**صفت:**

**د صفت څخه مقصد د مخرج څخه د تورو د وتلو او جوړيدلو کيفيت دی. هغه هوا چې د سګو څخه وځی که چيرته په طبيعی توګه بيله دی چې د صوتی او تارو سره ولګيږي ووځی «نَفَس» نومول کيږي او که انسان په خپله اداره سره دغه هوا صوتی او تارو ته چې په حنجره کې موجود دی متوجه کړی او د مسموعی امواجو د زيږيدنی لامل وګرځی، دغو امواجوته «صوت، غږ» وييل کيږي. وروسته که دغه هوا د غږ سره يو ځای د خولی او يا ستونی (حلق) د مقاطعو څخه پريوی مقطع تيره شي، يعنی د هغوی يوه بيل او محدود ځای ته ورسيږي «حرف» منځ ته راځي.**

**د دغو د نفس سره ګډو امواجو پر دغو مقاطعو باندې د تيريدو کيفيت د «توری د صفت» په نامه يادوو.**

**پردی بنا د مخرج په واسطه د توری ماهيت او منځ ته راغلی تشکل تعين کيږي، د صفت په مرسته د تورو په منځ کې توپير حاصليږي په خاص ډول د هغو تورو په منځ کې کوم چې يو او يا نژدی مخرجونه لري، لکه «طاء» او «تاء» چې مخرج يې يو دی، او که د «طاء» انطباق او استعلاء نوای د هغو ترمنځه تو پير نشوای راتللی.**

**د تورو صفتونه ډير دی. مکي بن ابی طالب په «الرعاية» کتاب کې له څلورڅلويښتو (۴۴) صفتونه، او ابن جزری په «التهميد» کتاب کې د څلورديرشو (۳۴) صفتونو څخه يادونه کړيده لکن ابن جزری په مقدمه کې داوولسو مهمو او مشهور صفتوتو په يادولو سره اکتفاء کړی ده چې هغه په لاندې تفصيل سره دی:**

**لمړی دغه صفتونه په دوه ډول دی:**

**الف: ضد درلودونکې صفتونه چې عبارت دی له:**

| | | |
|---|---|---|
| **جهر** | **ضديی** | **همس** |
| **شدت** | **ضديی** | **رخاوت** |
| **استعلاء** | **ضديی** | **استفال** |

| | | |
|---|---|---|
| انطباق | ضدیی | انفتاح |
| اصمات | ضدیی | اذلاق |

**ب: هغه صفتونه چې ضد نلري او عبارت دی له:**
**صفیر، قلقله، لین، انحراف، تکریر، تفشي او استطالت.**

**الف: همس:**
همس په لغت کې د ورو او پټ غږ په مانا دی، او د تجوید په اصطلاح کې د تلفظ په وخت کې د توري په مخرج کې د نَفَس د جاری کیدلو څخه عبارت دی.
ددی امله غږ په مخرج کې دنه حصاریدو له خاطره ورو او ضعیف وځی. هغه توري چې د دغو صفتونو درلوودونکې دی، لس توري دی. ابن جزری هغوی په دغه مجموعه کې راغونډ کړی دی: (فحثه شَخصُ سَکَت).

**ب: جهر:**
جهر د هَمس ضد دی، یعنی د تلفظ په وخت کې په مخرج کې د نفس حصاریدل چې په پای کې غږ روښانه، قوی او جگ له مخرج څخه وځی.
په الفباء تورو کې د همس د تورو څخه به غیر په نورو تورو کې د جهر صفت موجود دی.

**ج: شِدَّت:**
شدت په لغت کې د قوت په مانا دی، او په اصطلاح کې د هغه څخه مقصد په مخرج کې د غږ بندیدل دی، یعنی د تلفظ لاندې توری د حصاریدو او طبعیت د ډیر قوت له امله غږ په شدت سره په مخرج کې بندیږي، وروسته د هوا په آزادیدلو سره آزادیږي له همدی وجهی ډیر د شدت توری د جهر د تورو څخه هم دی، اما «تاء او کاف» سره له دی چې د تلفظ په پیل کې هوا د هغوی په مخرج کې حبس کیږي، لکن د دغه حبس د ضعیف په علت د جهر صفت نلری.

دری امله د «تاء او کاف» سره غږ ورو او نرم آزادیږي.
ابن جزری د شدت توری داسی راغوند کړی دی: (أ جِد قَط بَکَت).

د: رَخَاوَت:
رخاوت د شدت ضد دی، او د انحصار د ضعف له کبله په مخرج کې د غږ د جاری کیدلو څخه عبارت دی، او د الفباء په تورو کې د شدت او توسط د تورو څخه نور د رخاوت توری دی.
لازمه نده د رخاوت په تورو کې د غږ د جریان له امله نفس هم جریان ولری، د مثال په توگه «ضاد» د رخاوت او جهر د تورو څخه دی او همدارنگه «ظاء او غین».

هـــ: توسط (بین البین):
توسط یعنی د شدت او رخاوت ترمنځ، ځینو هغه «بینیت» نومولی دی. د دغه صفت توری پنځه دی: (لِسَ عُمرَ).
د دغو تورو طبیعتاً نه رخاوت سوچه او نه یی شدت سوچه دی بلکه د رخاوت درجه یی ضعیفه ده په داسی شکل سره چې شدت ته نژدی دی.

بِسۡمِ اللَّهِ الرَّحۡمَنِ الرَّحِيمِ

وَإِذِ اسۡتَسۡقَى مُوسَى لِقَوۡمِهِ فَقُلۡنَا اضۡرِب بِّعَصَاکَ الۡحَجَرَ فَانفَجَرَتۡ مِنۡهُ اثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡناً
قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشۡرَبَهُمۡ كُلُواۡ وَاشۡرَبُواۡ مِن رِّزۡقِ اللَّهِ وَلاَ تَعۡثَوۡاۡ فِي الأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ
﴿٦٠﴾ وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَا مُوسَى لَن نَّصۡبِرَ عَلَىَ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادۡعُ لَنَا رَبَّکَ يُخۡرِجۡ لَنَا مِمَّا
تُنبِتُ الأَرۡضُ مِن بَقۡلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسۡتَبۡدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدۡنَى
بِالَّذِي هُوَ خَيۡرٌ اهۡبِطُواۡ مِصۡراً فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلۡتُمۡ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ وَالۡمَسۡكَنَةُ وَبَآؤُوۡاۡ
بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ ذَلِکَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواۡ يَكۡفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ذَلِکَ
بِمَا عَصَواۡ وَّكَانُواۡ يَعۡتَدُونَ ﴿٦١﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواۡ وَالَّذِينَ هَادُواۡ وَالنَّصَارَى وَالصَّابِئِينَ
مَنۡ آمَنَ بِاللَّهِ وَالۡيَوۡمِ الآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحاً فَلَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلاَ خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلاَ

هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُواْ مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ
وَاذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ فَلَوْلاَ فَضْلُ اللّهِ عَلَيْكُمْ
وَرَحْمَتُهُ لَكُنتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَواْ مِنكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا
لَهُمْ كُونُواْ قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنَاهَا نَكَالاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً
لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُواْ بَقَرَةً قَالُواْ أَتَتَّخِذُنَا
هُزُواً قَالَ أَعُوذُ بِاللّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لّنَا مَا هِيَ
قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ فَارِضٌ وَلاَ بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذَلِكَ فَافْعَلُواْ مَا تُؤْمَرونَ ﴿٦٨﴾
قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَا قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاء فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ
النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ البَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّآ إِن شَاء
اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ ذَلُولٌ تُثِيرُ الأَرْضَ وَلاَ تَسْقِي الْحَرْثَ
مُسَلَّمَةٌ لاَّ شِيَةَ فِيهَا قَالُواْ الآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾ صدق
الله العلى العظيم

## دوهم لوست

## (استعلاء او استفال، انطباق او انفتاح، اصمات او اذلاق)

## د تورو متضاده صفتونه او د هغوی تطبیق ذالبقرة په سورت کې

**موخې:**

**الف:** د ذکر شویو متضاده صفتونه او دیوه او بل سره د هغوی د تو پیر په برخه کې د پوهې لاس ته راوړل.

**ب:** د پوهې حاصلول د ذکر شویو صفتونه د تو پیر ورکوونکو حالاتو په برخه کې ړپه خاص ډول د هجاد د هغو تورو په منځ کې چې د یوه مخرج لرونکې دی.

**ج:** د هغو تورو په هکله د بلدتیا لاس ته راوړل کوم چې د ذکر شویو متضاده صفتونه لرونکې دی.

**د:** د اطمینان حاصلیدل د هغو تورو د سم تلفظ په برخه کې کوم چې د یاد شویو متضاده صفتونه لرونکې دی البته د ذکر شویو آیتونو قرائت په ترڅ کې.

**هـ:** د هغو اشتباهگانو او التباسونو له منځ وړل کوم چې د ذکر شویو صفتونو د نه رعایت په صورت کې د هم مخرجو تورو د تلفظ په وخت کې را منځ کیږي.

**و:** د قرب، بعد، قوت، ضعیف، غږ ځکوالی، نرمی او داسی نوروله لوری د متضاده صفتونو د پرتلی کولو د توان پیدا کیدل.

**و: استعلاء:**

استعلاء په لغت کې د پورته تللو په مانا ده، او په اصطلاح کې د توری د تلفظ په وخت کې د ژبی دیوی لویی او یا زیاتی برخی پورته تلل دی.

د استعلاء توری اووه دی: (خُصَّ ضَغط قِظ).

د استعلاء ډېره جگه درجه په «صاد»، «طاء»، «ظاء» کې ده چې د هغوی د تلفظ په وخت کې ژبه زیادتره پورته ځی. (۱،۴،٦،۱۲ شکلونو ته دی وکتل شي)
د «قاف او خاء» استعلاء کمه ده، ځکه د ژبی آخر یعنی هغه برخه چې د حلق څخه وروسته پرته ده پورته ځی. او په «غین» کې د ټولو څخه ضعیفه ده.

ز: استفال:
استفال د کته تللو په مانا دی، او په تجوید کې د استعلاء په عکس، یعنی د توری د تلفظ په وخت کې د ژبی د لویی او یا زیاتی برخی کته تلل دی. د استعلاء د تورو څخه پرته نور د الفباء په تورو کې ټول د استفال توری جوړ وی.
هر کله چې د استعلاء توری تلفظ شي، غږ د ژبی د پورته تللو په نتیجه کې ضخیم کیږي، دغه حالت ته «تفخیم» وایې، هر کله چې د استفال توری تلفظ شي غږ د ژبی د کته تللو په نتیجه کې نری کیږي، دغه حالت ته «ترقیق» وایې.

ک: اِنطِباق:
د څلورو تورو (صاد، ضاد، طاء، ظاء) د استعلاء د درجی زیاتوالی د انطباق څخه عبارت دی پداسی شکل سره چې ژبه نژدی ده د خولی د سقف سره ونیبنلی، د دی په پای کې هوا د ژبی او د خولی د سقف په منځ کې داسی حصاریږي چې غږ قوي کوي.
ډېره قوی درجه د انطباق په «طاء» کې ده، ځکه چې د ژبی د انطباق حالت په هغی کې زیات دی، وروسته «ضاد» او د هغه نه وروسته په «صاد او ظاء» کې د ټولو څخه ضعیفه ده.

ل: انفتاح:
د انفتاح څخه مقصد د توری د تلفظ په وخت کې د ژبی لیری کیدل د خولی له سقف څخه دی په داسی ډول چې د دوی دواړو په منځ کې فضاء د غږ او هوا د

تیریدلو لپاره باقي پاتی کیږي، دا حالت د انطباق د تورو څخه به غیر په پاتی نـــورو تورو کې دی او په دوو سببونو سره حاصلیږي:
په (غین، خاء او قاف) کې د استعلاء د درجی کمزوری که څه هم دغـــه تـــوری د استعلاء د صفت لرونکې دی لکن په دوی کې انطباق وجود نلری.
د توری مُستفِلوالی.

**م: إصمات:**

إصمات په لغت کې منع کولو ته وایې: «أصمَتُّه فَصَمَتَ» یعنی هغه می منع کـــړ او هغه هم ډډه وکړه. او د دی مانا څخه دی «صَمت سکوت» یعنی د خبرو کړلو څخه ډډه کړل.
اما د تجوید په اصطلاح کې د هغه مقصد په اړه ابن جزری له ابن دُرید[1] څخه نقـــل کړی چې وییلی یی دی:
د اصمات توری هغه توری دی چې د هغوی پر ژبه باندې د درنښت او ســـختی پـــه وجه نښایی په عربی ژبه کې په یوازی توگه د هغه کلمی د جوړولو لپاره وکارول شي کومه چې د توریو شمیرلی زیات وی نو په هغه کلمو کې چې د تورو شـــمیرلی لـــه دریو څخه زیات وی نه راځي، د دی پر بناد اصمات په تعریف کې داسی وییلی شو: «د څلور یا پنځه توریزو کلمو د اصلی جوړښت لپاره د خاصو تورو نه کارولو تـــه اصمات وایې».

**ن: اذلاق:**

د اذلاق په تعریف کې یی ویلی دی:[1] اذلاق په آسانی او نرمی سره د توری وتل دی.

---

[1] ابوبکر محمد بن حسن بن دُرید ازدی لغوی شافعی د الجَمهَرة فی اللغة و الا مالی، او غریـــب القـــرآن مؤلف دی. په کال ۲۲۳ هـــ ق په بصره کې زیږیدلی او په کال ۳۲۱ هـــ ق په عمـــان کـــې وفـــات شوی دی.

د دغه صفت توری: «فاء، راء، میم، نون، لام، باء» دی، ابن دجزری هغه داسې راغونډ کړی دی: «فَرَّمِن لُب».

دغه هغه صفتونه دی چې دوه په دوه دیوه اوبل ضد دی او که توسط په شمیر کې رانولو د هغوی شیمر لس (۱۰) کیږي.

د دغو صفتونو څخه علاوه اووه صفتونه نورهم شته چې ته نتیجه کې د هغوی شمیر اوولس (۱۷) کیږي، او د اووه ګونو ذکر شویو صفتونو بیان د راتلونکو لوستونو په ترڅ کې راځي.

د «إصمات او اذلاق» د تعریف شرحه:

هره کلمه چې د څلورو یا پنځو اصلی تورو څخه جوړه شوي وی ممکن ندی چې هغه ټول د إصمات توری وی بلکه ښایی چې له هغوی سره د اذلاق توری هم موجود وی، پردی بنا هر کله مو چې یوه غږ مزیده څلور یا پنځه حرفی کلمه ولیدله چې حتی یو توری هم د اذلاق له تورو څخه په هغی کې وجود ند درلود، په ډیرو حالاتو کې دا خپله یو دلیل دی چې دغه یوه عربی کلمه نده، د مثال په ډول «غَجَر= طلا» او «اسحاق» چې سریانی کوم دی.

له هغه ځایه څخه چې عرب به تل د خپل نطق لپاره د آسانه او روانو کلمو په شا پسی ګرځیدل، د څلور یا پنځه حرفی کلمو څخه چې د اذلاق توری به په کې نه وو ډېره به یې کوله، ځکه چې د اذلاق د تورو «سپکوالی» هغه «درنښت» چې د تورو د زیاتوالی څخه منځ ته راځي کموی د همدی وجهی په خاطر یې هغوی د اذلاق د تورو په نامه یاد کړی دی کوم چې مانایی آسانی او روانی ده، دغه توری د آسانه مخرجونو څخه تلفظ او د نرمو صفتونو لرونکې دی په داسی حال کې چې د اصمات توری په دغو امورو کې درانه او ډیر مشکل دی.

---

[1] اذلاق په لغت کې د افعال له باب او د ذلق له مصدر څخه دی، د تیزی او د هر شي د تیغ په مانا دی، چې په نتیجه کې د اذلاق مانا په تیزی او د شي په تیغ کې اوسیدل کیږي، اولکه څرنګه چې وینو د اذلاق توری د مخرجونو د تیزی او تیغ څخه تلفظ کیږي نوله همدی امله روان او آسانه دی.

### بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْساً فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ
بِبَعْضِهَا كَذَلِكَ يُحْيِي اللّهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ
قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ
الأَنْهَارُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاء وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّهِ وَمَا اللّهُ
بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾ أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ
كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ
قَالُواْ آمَنَّا وَإِذَا خَلاَ بَعْضُهُمْ إِلَىَ بَعْضٍ قَالُواْ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوكُم
بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلاَ يَعْلَمُونَ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ
﴿٧٧﴾ وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لاَ يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلاَّ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾ -فَوَيْلٌ
لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِندِ اللّهِ لِيَشْتَرُواْ بِهِ ثَمَناً قَلِيلاً فَوَيْلٌ
لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾ وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلاَّ أَيَّاماً
مَّعْدُودَةً قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللّهِ عَهْداً فَلَن يُخْلِفَ اللّهُ عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللّهِ مَا لاَ
تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾ بَلَى مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُوْلَـئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ
فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أُولَـئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا
خَالِدُونَ ﴿٨٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لاَ تَعْبُدُونَ إِلاَّ اللّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً
وَذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ ثُمَّ
تَوَلَّيْتُمْ إِلاَّ قَلِيلاً مِّنكُمْ وَأَنتُم مِّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لاَ تَسْفِكُونَ دِمَاءكُمْ
وَلاَ تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ أَنتُمْ هَؤُلاء
تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقاً مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ
وَإِن يَأتُوكُمْ أُسَارَى تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ
وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاء مَن يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنكُمْ إِلاَّ خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ
يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُولَـئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُاْ

أَلْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالآَخِرَةِ فَلاَ يُخَفَّفُ عَنْهُمُ أَلْعَذَابُ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾ صدق الله العلى العظيم.

## دریم لوست

## (قلقله، لین او تفشي) د تورو غیر متضاده صفتونه

## او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې

**موخې:**

**الف:** د هغو تورو سره معرفت حاصلول کوم چې د غیر متضاده صفتونه درلودونکې دی.

**ب:** د بیلوونکو نکتو په برخه کې پوهه در لاسه کول کوم چې هجا تورو کې د په دغو صفتونو په نظر کې نیولو سره منځ ته راځي.

**ج:** د محصلینو له لوری د ذکر شویو آیتونو د قرائت په ترڅ کې اطمینان لاس ته راوړل چې څرنګه هغه توری چې دغه صفتونه لری سم تلفظ کوی.

**د:** د هغو التباساتوله منځه وړل کوم چې د هم مخرجو تورو د تلفظ په وخت کې د ذکر شویو متضاده صفتونو د په نظر کې نیولو څخه پرته منځ ته راځي.

**هـ:** د غیر متضاده صفتونو د متضاده صفتونو سره چې مخکې تدریس شوی دی د پرتله کولو د توان پیدا کیدل.

**الف: قَلقلهَ:**

قلقله په لغت کې خوځښت او اضطراب ته وائي، او پدې ځای کې د هغه څخه مقصد د غږ سره د مخرج په خوځښت راوستل دی البته د انحباس او فشار څخه وروسته، ځکه چې لمړی غږ په مخرج کې حبس او ترفشار لاندې نیول کیږي، وروسته په داسی حال کې چې یوه قوی لړزه په مخرج کې پر ځای پریږدي په تیزی سره آزادیږي، دغی لړزه ته «قلقله» وائي.

د قلقله توری پنځه دی، د «قُطبُ جَدّ» په مجموعه کې راغونډ شوی، لکه چې وینو ټول د شدت او جهر د تورو څخه دی، او دا د هغې وجهې له کبله چې ومو ویـــل: باید د قلقلې څخه مخکې غږ او هوا په مخرج کې بنده او حبس شي.
د دغه صفت ډېره قوی درجه په ساکن توری کې ده، په خاص ډول په هغه حالت کې چې وقف پرې وشي، اما په متحرکه تورو کې د حرکت په ترڅ کې پټه پاتې کيږي.
او د «قاف» قلقله د ټولو څخه قوی ده، وروسته په «طاء» بیا په «جیم» او په پـــای کې په «باء او دال» کې کمزوری ده.
**توجه:** قلقله باید دومره زیاته نوی چې په توری کې په حرکت سره تبدیل شي.

**ب: لِین:**

د لین څخه مقصد په درازوالی او آسانی سره د غږ ایستل دی او په دریو تورو کـــې وجود لری: «الف، واو، یاء».
الف تل د مد اولین توری دی. اما «واو او یاء» که ساکن وی او د واو څخه مخکې ضمه او د یاء څخه مخکې کسره موجوده وی د مد اولین توری بلل کیږي، او که د دوی دواړو نه مخکې فتحه اوسی یوازې د لین توری کیدلی شي.

**ج: تَفَشّی:**

تفشي په لغت کې انتشار ته وائې، او په دی ځای کې د «شین» د تلفظ په وخت کې په خوله او د ژبې پرمخ د هوا د انتشار څخه عبارت ده، ځکه د «شین» څخه ماسوا د همس د تورو د تلفظ په وخت کې د هوا جریان د هغوی په مخارجو کې محـــدود کیږي او د هغوی څخه تجاوز نه کوی اما په «شین» کې د هوا جریان زیـــاتیږي او ټوله ژبه په خپل برخه کې نیسی.

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِن بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ
بِرُوحِ الْقُدُسِ أَفَكُلَّمَا جَاءكُمْ رَسُولٌ بِمَا لاَ تَهْوَى أَنفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقاً كَذَّبْتُمْ
وَفَرِيقاً تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَل لَّعَنَهُمُ اللَّه بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلاً مَّا يُؤْمِنُونَ
﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَاءهُمْ كِتَابٌ مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُواْ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ
عَلَى الَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَاءهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِ فَلَعْنَةُ اللَّه عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٨٩﴾
بِئْسَمَا اشْتَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُواْ بِمَا أنَزَلَ اللَّهُ بَغْياً أَن يُنَزِّلُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ عَلَى مَن
يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ فَبَآؤُواْ بِغَضَبٍ عَلَى غَضَبٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾ وَإِذَا قِيلَ
لَهُمْ آمِنُواْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُواْ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرونَ بِمَا وَرَاءهُ وَهُوَ الْحَقُّ
مُصَدِّقاً لِّمَا مَعَهُمْ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنبِيَاءَ اللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾ وَلَقَدْ
جَاءكُم مُّوسَى بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ ظَالِمُونَ ﴿٩٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا
مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُواْ مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُواْ قَالُواْ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا
وَأُشْرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ إِن كُنتُمْ مُّؤْمِنِينَ
﴿٩٣﴾ قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الآَخِرَةُ عِندَ اللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ الْمَوْتَ
إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالمِينَ
﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ
أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ وَاللّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ قُلْ
مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّهِ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى
وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٩٧﴾ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ
اللّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ ﴿٩٨﴾ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلاَّ الْفَاسِقُونَ
﴿٩٩﴾ أَوَكُلَّمَا عَاهَدُواْ عَهْداً نَّبَذَهُ فَرِيقٌ مِّنْهُم بَلْ أَكْثَرُهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٠﴾ وَلَمَّا
جَاءهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ اللّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ كِتَابَ
اللّهِ وَرَاء ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ وَاتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ

سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى
الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولاَ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلاَ تَكْفُرْ
فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ بِإِذْنِ
اللّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ
وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُواْ واتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِّنْ
عِندِ اللَّه خَيْرٌ لَّوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقُولُواْ رَاعِنَا وَقُولُواْ
انظُرْنَا وَاسْمَعُوا وَلِلكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ صدق الله العلى العظيم.

# څلورم لوست

## (استطاله، تکریر، صفیر او انحراف) د تورو غیر متضاده صفتونه او د هغوی تطبیق دالبقرة په سورت کې

موخې:

الف: د هغو تورو سره آشنا کېدل کوم چې د ذکر شویو غیر متضاده صفتونو لرونکې دي.

ب: د بیلوونکې نکتو په برخه کې پوهه تر لاسه کول کوم چې په هجا تورو کې د دغو صفتونو په نظر کې نیولو سره منځ ته راځي.

ج: د محصلینو له لوري د ذکر شویو آیتونو د قرائت د ترخ کې اطمینان لاس ته راوړل چې څرنګه هغه توري چې دغه صفتونه لري سم تلفظ کوي.

د: دهغو اشتباهګانو له منځه وړل کوم چې دهم مخرجه تورو د تلفظ په وخت کې د ذکر شویو متضاده صفتونو د په نظر کې نیولو څخه پرته منځ ته راځي.

هـ: د غیر متضاده صفتونو د متضاده صفتونو سره چې مخکې تدریس شوي دي د پرتله کولو د توان پیدا کېدل.

د: اِستِطالَة

استطاله په لغت کې د درازوالي او پورته والي په مانا ده، او پدې ځای کې دهغه څخه مقصد د ژبې د لمړي څنډې څخه نیولي د هغه تر آخره د نقطه لرونکې «ضاد» په مخرج کې د غږ درازوالی دی. «په دوو سیونو سره»:

۱. داچې «ضاد» د اوږده مخرج لرونکې دی یعنی د ژرندی د ښیو او کینو غاښونو سره د ژبې دیوی برخې د څنډې په برابر پروت دی.

۲. داچې «ضاد» قوی توری دی، ځکه چې د جهر، استعلاء او انطباق د صفتونو لرونکې دی نو دهغه د تلفظ په وخت کې کله چې ژبه پورته ځي او د هغه څنډه د

ژرندی پر غاښونو باندې منطبق کیږي او د مخرج د تنګوالی او د هوا د بندیدیو په نتیجه کې غږ د ژبی څنډه د اول نه تر آخره پوری په خپل برکې نیسی او د دی په څنګ کې «ضاد» رخاوت د تورو څخه هم دی.

۳. ابن جزری د خپل کتاب په مقدمه کې متضاده او غیر متضاده صفتونه په هغه تفصیل سره چې په مخکینی لوست کې تیر شول بیان کړی دی، اما د تجوید پوهان دغه صفتونه په دوو نورو ډولونو سره هم ویشي:

**۱. قوی صفتونه چې لاندې صفتونو ته شامليږي:**

(جهر، شدت، استعلاء. انطباق، اصمات، صفیر، قلقله، تکریر، انحراف، تفشي، استطالت او په میم او نون کې غنه).

**۲.ضعیف صفتونه چې لاندې صفتونو ته شامليږي:**

(همس، رخاوت، توسط، استفال، انفتاح، اذلاق اولین)

د عربی هر توری باید د متضاده صفتونو څخه پنځه صفته ولری او ښکاره ده چې په یوه توری کې دوه متضاده صفتونو نشي راغونډی دی. وروسته لدې چې (د توری صفتونه په ګوته شول) نو د هری ډلی د صفتونو څخه چې په کې زیات وو په توری باندې د قوت او یا ضعیف حکم کیږي.

او که قوی او یا ضعیفه صفتونه په هغه کې برابر وو نو توري به دی قوت او ضعف په منځ کې متوسط بلل شي.

**هـ: تکریر:**

تکریر یوازی په «راء» کې موجود دی یعنی د تلفظ په وخت کې د ژبی آخر ثابت نه پاتی کیږي پلکه لړزیږي، د دی لړزی په وجه غږ سپاند کیږي او د شدت او فشار څخه پرته له مخرج تیریږي. «راء» د تکریر د زیاتوالی لپاره ډیر قابلیت لری که له هغه څخه مخنیوی ونشي د ژبی لړزه زیاته او څو «راء» ګانی منځ ته راځي. دغه امر ځینی تجوید پوهان دی ته اړکړی ترڅو ووائې: ښایی تکریر ته پاملرنه وکړو! د دی

خبری څخه د دوی قصد د تکریر د زیاتوالی څخه مخنیوی دی. ابـــن جـــزری پـــه «التمهید» که وایي: «ښایی د هغه تکریر د قرائت په وخت کې اخفاء کړی شي»[1].
مؤلف وایي: د تکریر د اخفاء طریقه داده چې انسان پریږدي وروسته لدی چې د ژبی آخر یی د مخکینیو غاښونو د بیخ سره موازی شوله ځان څخه یوه لطیفـــه او ســـپکه لړزه وښیي وروسته هغه ونیښلوی ترڅو چې د تکریر د دوام څخه مخنیوی وشي.
هغه وخت چې «راء» تشدید لری دغه صفت په هغه کې ډیر روښـــانه وی نوځکـــه ښایی چې د تکریر د نه زیاتوالی لپاره ډیر حریص واوسو، لکـــه :«وخَـــرَّ مُوســـی» «الرَّحمن الرَّحیم».

و: صفیر:
د صفیر څخه مقصد هغه زیات غږ دی چې د «صاد، زای، سین» د تلفظ په وخـــت کې آوریدل کیږي. د «صاد» د صفیر درجه زیاته ده وروسته په «زای» او بیـــا پـــه «سین» کې کمزوری ده.

ز: انحراف
د انحراف صفت یوازی په «لام او راء» کې وجود لری.
د تجوید پوهانو ویلی دی: د دغو دوو تورو په مخرج او صفت کې انحراف وجـــود لری، یعنی د انحراف کیدو لپاره زښت زیات قابلیت لری. پردی بنا کـــه قـــاری د «لام» د تلفظ په وخت کې مواظب نه وی د «لام» مخرج د ګاونډیو تورو مخارجوته منحرف کیږي. «لام» په صفت کې هم د شدت او رخاوت ترمنځه متردد دی چې له همدی امله متوسط توری ګڼل شوي دی.
همدارنګه د «راء» مخرج د «لام او باء» د مخرج لوری ته ځی، یعنی د دغـــو دوو تورو مخرجونو ته د انحراف قابلیت لری، ځکه د «راء» د تلفظ په وخت کې د ژبی

[1] التمهید، د مصر چاپ، کال ۱۳۲۶، ص ۲۸.

آخر د خولې د سقف چه محدود ځای کې ثابت نه پاتې کیږي بلکه پــه خوځښــت راځي ترڅو پریږدي غږ په آسانۍ سره تیرشي، نو که څه هم «راء» نژدې د رخاوت د تورو څخه ده یوازی هغه توري دي چې د تکریر د صفت لرونکې دی اما د هغــه ځایع څخه چې د هغه رخاوت بشپړ ندی او په هغې کې غږ یو څه شانته بندیږي نــو هغه یې متوسط ګڼل دی.

دغه د دوو صفتونو د منلو قابلیت او د دوو مخرجونو لوری ته د تمایل قابلیت یــې «انحراف» نومولی دي.

پردي بنا توري د قوت او ضعیف په نسبت پر پنځه ډوله ویشل شوي دي:

۱.ډیر قوی چې «طاء، ضاد، قاف، ظاء» ته شامل دي.

۲.قوی چې «جیم، دال، صاد، غین، همزی» ته شامل دي.

۳.متوسط چې «زای، باء» ته شامل دي.

۴.ضعیف چې « لینه الف، تاء، خاء، ذال، راء، سین، عین، کاف، لام، میم، نـــون، واو، یاء» ته شامل دي.

۵.ډیر ضعیف چې «حاء، ثاء، هاء، فاء» ته شامل دي.

د ټولو تورو څخه ډیر قوی توری په مطلق ډول سره «بی نقطی طاء» ده، ځکه چې په هغه کې شپږ قوی صفتونه راغونډ شوي دی او هیڅ ضعیف صفت په هغه کې نشته. او د ټولو تورو څخه ډیر ضعیف توری په مطلق ډول سره «فاء» ده چې په هغه کـــې پنځه ضعیف صفتونه راغونډ شوي دی او هیڅ قوی صفت په کې نشته چې په لاندې جدول کې راغوند شوي دي:

| توری | قوی صفتونه | ضعیف صفتونه | شمیر | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | ق | ض | ج |
| الف | جهر، اصمات | رخـــاوت، اســـتفال، انفتاح، لین | ۲ | ۴ | ٦ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ب | جهر، شدت، قلقله | استفال، انفتاح، ازلاق | ۳ | ۳ | ٦ |
| ت | شدت، اصمات | همس، استفال، انفتاح | ۲ | ۳ | ۵ |
| ث | اصمات | همس، رخاوت، استفال، انفتاح | ۱ | ۴ | ۵ |
| ج | جهر، شدت، اصمات، قلقله | استفال، انفتاح | ۴ | ۲ | ٦ |
| ح | اصمات | همس، رخاوت، استفال، انفتاح | ۱ | ۴ | ۵ |
| خ | استعلا، اصمات | همس، رخاوت، انفتاح | ۲ | ۳ | ۵ |
| د | جه، شدت، اصمات، قلقله | استفال، انفتاح | ۴ | ۲ | ٦ |
| ذ | جهر، اصمات | رخاوت، استفال، انفتاح | ۲ | ۳ | ۵ |
| ر | جهر، انحراف، تکریر | توسط، استفال، انفتاح، ازلاق | ۳ | ۴ | ۷ |
| ز | جهر، اصمات، صفیر | رخاوت، استفال، انفتاح | ۳ | ۳ | ٦ |
| س | اصمات، صفیر | همس، رخاوت، استفال، انفتاح | ۲ | ۴ | ٦ |
| ش | اصمات، تفشی | همس، رخاوت، استفال، انفتاح | ۲ | ۴ | ٦ |
| ص | استعلاء، انطباق، اصمات، صفیر | همس، رخاوت | ۴ | ۲ | ٦ |
| ض | جهر، استعلاء، اطباق، اصمات، استطالت | رخاوت | ۵ | ۱ | ٦ |
| ط | جهر، شدت، استعلاء، | – – – | ٦ | – | ٦ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | اطباق، اصمات، قلقله | –　　　– | | | |
| ظ | جهـــر، اســـتعلاء، اطباق، اصمات | رخاوت | ۴ | ۱ | ۵ |
| ع | جهر، اصمات | توسط، استفال، انفتاح | ۲ | ۳ | ۵ |
| غ | جهر، استعلاء، اصمات | رخاوت، انفتاح | ۳ | ۲ | ۵ |
| ف | –　　–　　–　　– | همس، رخاوت، استفال، انفتاح، ازلاق | – | ۵ | ۵ |
| ق | جهر، شدت، اصمات، استعلا، قلقله | انفتاح | ۵ | ۱ | ۶ |
| ک | شدت، اصمات | همس، استفال، انفتاح | ۲ | ۳ | ۵ |
| ل | جهر، انحراف | توســـط، اســـتفال، انفتاح، ازلاق | ۲ | ۴ | ۶ |
| م | جهر، غنه | توســـط، اســـتفال، انفتاح، ازلاق | ۲ | ۴ | ۶ |
| ن | جهر، غنه | توســـط، اســـتفال، انفتاح، ازلاق | ۲ | ۴ | ۶ |
| و | جهر، اصمات | رخـــاوت، اســـتفال، انفتاح، لین | ۲ | ۴ | ۶ |
| ی | جهر، اصمات | رخـــاوت، اســـتفال، انفتاح، لین | ۲ | ۴ | ۶ |
| هـــ | اصمات | همـــس، رخـــاوت، استفال، انفتاح | ۱ | ۴ | ۵ |
| ء | جهر، شدّت، اصمات | استفال، انفتاح | ۳ | ۲ | ۵ |

«۱۷» عربی توری او د هغوی قوی او ضعیف صفتونه او د هــر تــوری د صــفاتو مجموعه (ق= قوی، ض= ضعیف، ج= جمع).

**د تورو القاب:.**

خلیل بن احمد د «العین» کتاب په اول، مکي بن ابی طالب په «الرعایــة» او ابــن جزری په «التمهید» او «النشر» کې د تورو لپاره یې د هغو ځایونو په پام کې نیولــو سره چې هغوی تری نه تلفظ کیږي دلسو لقبونو څخه نوم اخستی دی:

۱. **حلقی (د ستونی) توري:** چې شپږ دي (همزه، هاء، عین، حاء، غین، خاء) د دغو نومولو سبب دادي چې دغه توري د حلق (ستونی) څخه تلفظ کیږي.
۲. **لَهَوی توري:** چې د (قاف او کاف) څخه عبارت دی او دغه نوم د دی لپاره ورکړ شوي دي چې د هغوی مخرج «لهاة=وړی ژبی» ته نژدي دي.
۳. **شجری توري:** دری توري دي (جیم، شین، یاء) او ځینو «ضاد» هم پــری زیات کړی دي. دغه نوم یا لقب د دی امله ورکړ شوي دي چــې د دغــو تورو مخرج د کینو او ښیواوریو د منځه سره موازی دی، لکه څرنګه چې د خولی د بندولو لو وازولو ځای هم دی.
او د خولی شجر لکه چې د قاموس[1] خاوند وایي: مخرج او یا د خولی آخر، یا د خولی انطباق د ځای وازه برخه، یا د غوړ د بنا داړوکیو دیو ځای کیدو ځای، یاد دوو او ریو منځ دی.
۴. **اَسَلی توري:** دری دی (صاد، سین، زای) او د دی نومونی سبب د هغــوی مخرج دی چې «اَسَله= نوک» د ژبی دی. د قاموس خاوند وایي: اَسَله هر

---

[1] ابوطاهر محمد بن یعقوب مجد الدین شیرازی فیروز آبادی، په کال ۷۲۹ هــ ق د فیروز آباد په کارزین کې دنیاته راغلی او په کال ۸۱۰ هــ ق کې وفات شوی دی. د هغه د لغت د کتاب بشپړ نوم «القاموس المحیط والقاموس الوسیط» دی.

هغه لرګۍ دی چې په کې کوږوالی نه وي، او دژبې آخر، او یـــا غیشـــي او ساعد باریک او نری ځای.

۵. **نِطَعی یا د نِطَعی توري:** دری دي (طاء، دال، تاء) دا نومونه هم د هغوی د مخرج له امله ده چې پر نِطعَ پورتنی غار یعنی د خولې د سقف په مخکنـــۍ برخه (پورتنی تالو) باندې چې خطونه لری منطبق کیږي.

٦. **لِثَوی توري:** د (ظاء، ذال، ثاء) څخه عبارت دی او دا نومونه د هغه ځایـــه څخه ده چې د هغوی مخرج د لِثی یعنی د هغی غوښی سره چې غاښونو پـــه کې تللی نژدی دی.

٧. **ذَلقی او یا ذَولَقی توري:** دری توري دي (لام، راء، نون) دانوم هم د هغوی د مخرج له امله دی چې ذلق یعنی د ژبې آخر دی.

٨. **شَفَهی توري:** دری توري دي (باء، واو، میم) دا نوم هم د هغوی د مخرج له امله دی چې په شونډو کې قرار لری.

٩. **جوفی توري:** دري توري دي (الف، واو، یاء) جوف چې د خولې فضاء ده نو پدې نامه یاد شوي دي.

١٠. **هوایې توري:** هغه دری پورتنی توري په دې نامه سره هم یاد شـــوي دي، ځکه د هغوی غږ د خولې دننه هوا سره د خولې تر بهره پـــوری اوږدوالـــی مومی.

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقُولُواْ رَاعِنَا وَقُولُواْ انظُرْنَا وَاسْمَعُوا ْوَلِلكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ
﴿١٠٤﴾ مَّا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلاَ الْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ
مِّن رَّبِّكُمْ وَاللّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاء وَاللّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾ مَا نَنسَخْ
مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ
﴿١٠٦﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِن وَلِيٍّ

وَلاَ نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾ أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْأَلُواْ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَى مِن قَبْلُ وَمَن
يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاء السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ
يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ
فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾ وَأَقِيمُواْ
الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ
بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾ وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَن كَانَ هُوداً أَوْ نَصَارَى تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ قُلْ
هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ
حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلّهِ فَإِنِ انتَهَواْ فَلاَ عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٩٣﴾
- -الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ
بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾ وَأَنفِقُواْ فِي

سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾
وَأَتِمُّواْ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلاَ تَحْلِقُواْ رُؤُوسَكُمْ
حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضاً أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ
صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَن لَّمْ
يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ
أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾
الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الْحَجِّ
وَمَا تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّهُ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُوْلِي الأَلْبَابِ
﴿١٩٧﴾ صدق الله العلى العظيم.

تمرين:

۱. د ساکن نون څلور حکمونه په لنډ ډول د هريوه د تورو د اړوندو مثالونو سره بيان کړی.

۲. د لاندې حکمونو سبب شرح کړی:

الف: د حلقی تورو په وړاندی د «نون» اظهار.

ب: د هغه ادغام د «يرملون» د تورو په وړاندی.

ج: د «باء» په وړاندی دهغه په «ميم» سره بدليدل (اقلاب).

۳. د تجويد د علماوو له نظره د اخفاء مانا څه ده؟ او د ادغام سره څه توپير لري؟ د مثال له حيثه يې شرح کړی.

۴. د تماثل، تجانس او تقارب څخه مقصد څه دی؟ اړونده کلمی د مثالونو په ويلو سره تشريح کړی.

۵. په لاندې آيتونو کې د هغه نون يا ميم حکم څه دی کوم چې د لاندې څخه يې خط ايستل شوی دی؟

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ﴿۱۷﴾ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ
الْجَحِيمِ ﴿۱۸﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۱۹﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَى سُرُرٍ
مَّصْفُوفَةٍ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿۲۰﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا
بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿۲۱﴾
وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿۲۲﴾ يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ
﴿۲۳﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿۲۴﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى
بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿۲۵﴾ قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿۲۶﴾ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا
وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿۲۷﴾ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴿۲۸﴾

٦. آيا په لاندې ځايونو کې اظهار کيږي او که ادغام؟ او ولی؟ :

«دُنيا» «قِنوان» «ماليه هَلَکَ» «ءامنوا وعملوا» «ءووا ونَصَروا».

## دوهم لوست

# د طبیعی، متصل او منفصل مد حکمونه او د هغوی تطبیق د البقرة په سورت کې

**موخې:**

**الف:** د مد د ډولونو: طبیعی مد او یا «عارض» قصر، متصل مد، منفصل مد، حرفی او داسی نورو پیژندنه.

**ب:** د مد په هرډول کې د هغه د سببونو او مقدار څخه پوهه لاس ته راوړل.

**ج:** د مد د ډولونو د عملی تطبیق څخه پیژندنه د استاد د مثالی قرائت او محصلینو د تکرار په واسطه د البقرة د سورت د (۲۴ – ۲۵) رکوعګانو څخه.

**د:** د استاد له لوري د محصلینو د اشتباهګانو لیری کول او اصلاح کول کومی چې د قرائت په وخت کې د دوی څخه پیښیږي.

**د مد توري:**

- د مد او قصر تعریف

**همزه:**

- واجب متصل مد
- جائز منفصل مد

**سکون:**

- لازم مد
- عارض مد
- د لین مد
- د کنایې هاء

**مد او قصر:**

مد په لغت کې د اوږدولو، ډېرکولو او زيات کولو په مانا دی، او د دې مانا ځخه دی: «يُمْدِدْکم ربُّکم»[1] او «انی مُمِدُّکم».[2]
او په اصطلاح کې د مد د توري د غږ اوږدولوته «مد» وايې.

قصر په لغت کې د حبس او بندولو په مانا دی، او د دې مانا ځخه دی: «حُور مقصوراتُ فی الخيام»[3] و «قاصِراتُ الطَّرفِ»[4] مقصد: د سترګو بندکوونکی دی د خپلو ميړو ځخه ماسوا، نورروته.
او په اصطلاح کې د مد برعکس د غږ د زياتوالي ځخه پرته د توري د اثبات په مانا دی.

**د مد د راتلو ځايونه يوازې درې توري دي:**

- **الف چې ساکن ماقبل يې فتحه وي.**
- **ساکن واو چې ماقبل يې ضمه وي.**
- **ساکنه ياء چې ماقبل يې کسره وي.**

د مد مقدار په اصل کې دوه حرکته دی، په هغه صورت کې چې د زيادت غوښتونکی سبب ځخه مخکې نوی راغلی. هغه مد چې د توري د طبيعت ځخه ښودل کيږي او د توري ذات نشي کولای بی له هغه ځخه وجود ولري، هغه د طبيعی مد په نامه سره نومول کيږياو همدارنګه د «اصلي مد» او د «صيغی مد» په نامه سره هم ياديږي. لکه: «قالَ، قِيلَ، يَقُول، يَغْشَى، نُوحيها».

---

[1]. د آل عمران سورت، ۱۲۵ آيت.

[2]. د الانفال سورت، ۹ آيت.

[3]. د الرحمن سورت، ۷۲ آيت.

[4]. د الصافات سورت، ۴۸ آيت او د الرحمن سورت، ۵۶ آيت.

هرکله چې د دغو تورو څخه وروسته د مد د اسبابو څخه یو سبب راشي د هغه په اصلي مقدار باندې زیاتیږي او پدې وخت کې مدّ فرعی نومول کیږي.
فرعي مد لفظي او معنوي سببونه لري، لفظي سببونه زمونږ تر بحث لاندې دي کوم چې دوه سببه په ګوته شوي دي.

**همزه او سکون: او د هریوه لاندې د مد مختلف ډولونه راځي:**

**لومړی: همزه:**

امکان لري: همزه د مد د توري څخه وروسته او یا مخکې راشي، او هرکله چې د مد د توري څخه وروسته راشي امکان لري: د هغه سره یوځای په یوه کلمه کې وي او یا دهغه څخه بیله په بله کلمه کې راغلی وي.

**۱. واجب متصل:**

واجب متصل مد هغه مد دی چې د مد توری او سبب یې (همزه) په یوه کلمه کې یوله بل سره یوځای راغلی وي، د دې سبب له امله ورته متصل ویل کیږي او له کومه ځایه څخه چې د هغه د اوږدولو په وجوب کې ټول قاریان متفق دي نو هغه ته یې واجب ویل دي، که څه هم د اوږدولو په مقدار کې اختلاف لري، «النشر» په پخپله وایي: دمتصل مد د قصر (نه اوږدولو) په برخه کې می تحقیق وکړ اما څوک می پیدانکړل چې هغه یې نوی اوږد کړی نه په صحیح قرائت اونه په شاذ قرائت کې بلکه د هغه د اوږدوالي په اړوند می د ابن مسعود نص ولید.[۱]
د دې مد حکم د څلورو یا پنځو حرکتونو په مقدار اوږدول دي، لکه: «جآء، شآء، جیٓئ، سیٓئ، السوٓءَ، قُروٓء، النسیٓئ، الملٓئکة، اوٓلٓئک».

**۲. جایز منفصل:**

جایز منفصل مد هغه مد دی چې د مد توری او سبب یې (همزه) له یوه او بله سره جدا دی او هریو په بیله کلمه کې قرار لري، لکه: «ما اُنزل، یا ایُّهاالذین

---

[۱]. النشر: ج ۱، ص ۳۱۵، او حدیث یې د اسنادو سره ذکر کړی دی. د دې کتاب ۵۳ مخ ته وګوری (مؤلف).

آمنوا، قوا انفسکم، اتبعونی اهدِکُمْ». د دې مد په منفصل سره د نومولو سبب د همزی بیلوالی د مد د توري سره دی، او په جائز سره د نومولو سبب یې دهغه د قصر او مد جواز دی.

اما د عاصم په روایت کې د هغه اوږدوالی د څلورو یا پنځو حرکتو په مقدار سره دی[1] ابن جزری ویلي چې دی حفص څخه په څو طریقو سره روایت لري چې قصر به یې کاوه.

اما که همزه د مد د توري څخه مخکې راشي هغه ته بدل مد وایې، لکه: «ءادَم، ءازَرَ، أُوتوا، إیماناً». دغه مد ته بدل ویل کیږي ځکه چې د مد توری یې د هغه ساکنی همزی څخه بدل دی کوم چې په ذکر شویو کلمو کې په «الف» یا «واو» او یا «یاء» سره تبدیل شوی، ځکه د هغوی اصل وو: «أأدم، أأزر، أوأتوا، إئمانا»

د دغه مد مقدار دوه حرکته دی، لکه طبیعی مد.

**دوهم سکون:** هغه سکون چې د مد د توري څخه وروسته راځي، امکان لري لازم او یا عارض وي، او پردی بنا سره مد پر دوو ډولونو: لازم او عارض سره ویشل کیږي:

**۱. لازم مد:** لازم مد هغه مد دی چې وروسته له هغه څخه سکون تل موجود وي یعنې هیڅکله له منځه نه ځي، څه د وصل په حالت کې او څه د وقف په حالت کې.

دغه مد څلور ډوله دی:

۱– کلمی مثقل لازم: او قاعده یې داده چې «په کلمه» کې د ادغام یا تشدید سره یوځای د مد د توري څخه وروسته ساکن توری راغلی وي، لکه: «تأمُرُونّی ءآمّین البَیتَ، ءآلذّکَرَین، ءَالله، أتُحاجُّونّی، الصَّاخَّه، ولا الضَّآلّین»

دغه مد ته کلمی وایې ځکه چې د مد توری په کلمه کې راغلی، او ورته مثقل وایې ځکه چې د مد څخه وروسته ادغام اویا تشدید وجود لري.

---

[1]. باید پام کې ولرو چې متداول مُصحفو د هغه روایت مطابق چې شاطبی له حفص له عاصم څخه کړي، د منفصل مد اوږدول دي، او په منفصل قصر کې دهغه روایت مطابق چې ابن جزری له حفص څخه کړی داسی مطالب مرتب کیږي چې قرائت پوهان په هغه باندې پوهیږي، نو باید د منفصل مد نه اوږدولو څخه ډډه وشي.

۲- کلمی مُخفف لازم: او قاعده یې داده چې د ادغام یا تشدید څخه پرته د مد د توري څخه وروسته ساکن توری راغلی وي، د دې ډول څخه یوازې یوه کلمه وجود لري: «ءآلئنَ» چې د استفهام لپاره کارول شوی او د یو نس په سورت کې په دوو ځایونو کې راغلی ده:«ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ »[1]

۳- حرفی مثقل لازم: او یوازې د سورتونو په لومړیو په مقطعه تورو کې راغلی دی، هرکله د ادغام سره یوځای د مد توري څخه وروسته لازم ساکن وي مثال یې دادی: «الٓمٓ، طٓسٓمٓ».

۴- حرفی مُخفف لازم: هرکله د مد توري څخه وروسته ساکن د ادغام څخه خالی وي نو مثالونه یې دادي: «نٓ، قٓ، صٓ، یسٓ، حمٓ».

د لازم مد د ټولو ډولونو اوږدوالی د شپږو حرکتونو په مقدار سره واجب دی. دغې اندازې اوږدوالي ته په تجوید کې طول یا اشباع وایې او د ټولو قاریانو په وړاندی وجود لري. ابن جزری په مقدمه کې وایې:

فلازمُ: اِنْ جاء بعدَ حرفِ مَدٌّ ساکنُ حالین وبالطُّول یُمَدُّ

ژباړه: مد لازم بلل کیږي: که دمد د توري څخه وروسته، ساکن په دوو حالتونو (تشدید او نه تشدید) سره راشي، او د (شپږو حرکتونو) په مقدار سره اوږدیږي.

**۲. عارض مد:**

هرکله د مد د توري څخ وروسته سکون د وقف په سبب عارض شي، عارض مد منځ ته راځي، لکه: «مَئَاب، تَعلَمون، الخروج، مُنیب، شهید».

پدې مد کې درې وجهې روا دي: قصر (طبیعی مد = دوه حرکته)، توسُّط (څلور حرکتونه)، او اشباع (شپږ حرکتونه).

[1]. د یونس سورت، ۹۱ آیت.

**۳. د لین مد:**

**مخکې مو وویل: هرکله د «واو» او «یاء» دوه توري ساکن او ماقبل یې مفتوح وي د لین توري ورته ویل کیږي، د وصل په حالت کې پدې دوو تورو کې هیڅ مد وجود نلري او د هغوی اوږدوالی ممنوع دی، لکن که د هغوی پر مابعد باندې وقف وشي د عارض مد حکم له ځانه سره نیسي او په هغوی کې هماغه درې وجهې روا دي، لکه: «الَموت، خوف، البیت، شیئ».**

**د کنایی هاء:**

**د کنایی د هاء څخه مقصد هغه هاء ده چې دهغه په واسطه د غایب مذکر مفرد څخه کنایه کیږي. دغه «هاء» امکان لري په اسم یا فعل اویا توري کې دلاندې څلورو حالتونو څخه په یوه حالت کې راشي:**

**۱: په هغه حالت کې چې د دوو حرکت لرونکو تورو پــه منځ کې راشي، لــکه: «إنه لَقَولُ، إنَّه هو، انه کان، قال له صاحبُهُ وهو یحاوره انااکثَر، وِان کنتم من قبله لَمن الضّالین».**

**پدې حالت کې که ضمه ولري د «واو» په غږ، او که کسره ولري د «یاء» په غږ د دوو حرکتونو په مقدار سره اوږدیږي، مګر نه په لاندې کلمو کې:**

**الف: «أرجه» د الاعراف[1] او الشعراء[2] په سورتونو کې چې په سکون سره ویل کیږي.**

**ب: «فألُقه» د النمل[3] په سورت کې چې همدارنګه په سکون سره ویل کیږي.**

**ج: «یَرْضَهُ لَکُم» د الزُمَر[4] په سورت کې چې بی له مد څخه لوستل کیږي.**

---

[1]. ۱۱۱ آیت.

[2]. ۳٦ آیت.

[3]. ۲۸ آیت.

[4]. ۷ آیت.

۲: په هغه حالت کې چې د دوو ساکنو تورو په منځ کې راشي، او د ټولو قاريانو له نظره بی له مد څخه ده، لکه: «تَذَرُوهُ الرِّيحُ، إليه الْمَصيرُ، اماتَهُ اللهُ».
۳: په هغه حالت کې چې د متحرک څخه وروسته او د ساکن څخه مخکې راشي او د هغه حکم لکه مخکيني حکم غوندی دی، لکه: «لَهُ الْمُلکُ، اسمُهُ المَسحُ».
۴: په هغه حالت کې چې د ساکن څخه مخکې او د متحرک څخه وروسته راغلی وي، لکه: «فيهِ هُدًى، خُذوه فَغُلُّوهُ». د حفص له نظره په دغه ډول کې مد نکيږي مګر د الفرقان[1] د سورت په يوه ځای کې: «و يَخلُد فيهِ مُهاناً» چې په صله مد سره لوستل کيږي.

---

[1]. ٦٩ آيت.

## بسم الله الرحمٰن الرحيم

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُواْ فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُواْ اللّهَ عِندَ
الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّآلِّينَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ
أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٩﴾ فَإِذَا
قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُواْ اللّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ
رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ ﴿٢٠٠﴾ وِمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي
الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ أُولَئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا
كَسَبُواْ وَاللّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ وَاذْكُرُواْ اللّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ فَمَن تَعَجَّلَ فِي
يَوْمَيْنِ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَى وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ
تُحْشَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّهَ عَلَى مَا
فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيِهَا وَيُهْلِكَ
الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ
بِالإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاء
مَرْضَاتِ اللّهِ وَاللّهُ رَؤُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً
وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٠٨﴾ إِن زَلَلْتُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءتْكُمُ
الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلاَّ أَن يَأْتِيَهُمُ اللّهُ فِي ظُلَلٍ
مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلآئِكَةُ وَقُضِيَ الأَمْرُ وَإِلَى اللّهِ تُرْجَعُ الأمُورُ ﴿٢١٠﴾ سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ
كَمْ آتَيْنَاهُم مِّنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ وَمَن يُبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءتْهُ فَإِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ
﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ اتَّقَواْ
فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾ كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً
فَبَعَثَ اللّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا
اخْتَلَفُواْ فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلاَّ الَّذِينَ أُوتُوهُ مِن بَعْدِ مَا جَاءتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى

اللّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ لِمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ وَاللّهُ يَهْدِي مَن يَشَاء إِلَى صِرَاطٍ
مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِكُم
مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاء وَالضَّرَّاء وَزُلْزِلُواْ حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللّهِ أَلا
إِنَّ نَصْرَ اللّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾ يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ
وَالأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللّهَ بِهِ عَلِيمٌ
﴿٢١٥﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ
وَعَسَى أَن تُحِبُّواْ شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾ يَسْأَلُونَكَ
عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ اللّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ
الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ اللّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَلاَ يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ
حَتَّىَ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُواْ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ
فَأُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ
﴿٢١٧﴾ صدق الله العلى العظيم.

**تمرین:**

**۱. د مد او قصر اصطلاحی مانا ووایې.**

**۲. د مد توري کوم دي؟ او په کوم حالت کې د هغوی مد طبیعی دی؟ مثال ذکر کړی.**

**۳. د حد لفظي سببونه کوم دي؟**

**۴. لاندې مدونه (د مثال په ویلو سره) تعریف کړی، د مثال په ډول: متصل واجب، منفصل جایز، بَدَل.**

**۵. د لاند موارود لپاره مثالونه ذکر کړی: د لین مد، کلمی مثقل لازم، کلمی مُخفف لازم، حرفی مثقل لازم، حرفی مخفف لازم.**

**۶. عارض السکون مد تعریف او مثال یې وایې.**

**۷. په لادندی دوو آیتونو کې د مد ځایونه، د هغه ډول او په حرکاتو سره د هغه مقدار تعیین کړی:**

**يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْءَاتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىَ ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ يَا بَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَاتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لاَ تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاء لِلَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٧﴾ وَإِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً قَالُواْ وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءنَا وَاللّهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاء أَتَقُولُونَ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾**

# دریم لوست

# د وقف حکمونه او قسمونه او د هغه تطبیق د البقرة په سورت کې

**موخې:**

**الف:** د قرآن کریم د وقفونو او د قرآن کریم د لوستلو څخه د اوریدونکو په پام کې د هغه د اهمیت سره آشنا کیدل.

**ب:** د وقف د ډولونو پیژندل: لازم، مطلق، جائز، او د هر یوه ځای.

**ج:** دهغو ځایونو څخه پوهه ترلاسه کیدل کوم چې د وقف نه کړل د اوریدونکو لپاره د آیتونو د ماناګانو په پوهیدلو کې د اشتباه د پیداکیدو لامل ګرځي.

**د:** د البقرة د سورت د (۲۶ – ۲۷) رکوعګانو د قرائت په ترڅ کې د وقفونو عملی تطبیق.

**د وقف حکمونه:**

- د وقف تعریف
- د سکتی، قَطعی او وقف په منځ کې توپیر
- د وقف د حکمونو شرح او د ځینو دلیلونو راوړل

**د وقف ډولونه:**

- تام
- کافي
- حسن
- قبیح

**د وقف نښې:**

**د وقف حکمونه:**

**د وقف تعریف:** وقــف په لغت کې د درېده کــولــو او مخه نیولو په مانا دی، «وَقَفَ الشئ» یعنې هغه شی یې ودراوه. او په اصطلاح کې د «عادی نَفَس ایستلو سره د کلمی څخه د غږ قطع د وقف د ځای د مابعد یا ماقبل کلمی څخه د قرائت د بیا له سره نیولو په قصد» څخه عبارت دی.

**دسکت، وقف او قَطعی په منځ کې توپیر:**

سکت د وقف د وخت څخه کمه زمانه د غږ د پری کولو څخه عبارت دی، بی لدې چې قاری په مهغ کې نَفَس وباسی، د دغی سکتی مقدار د حفص له نظره کم او لطیف دی، لکه چې امام شاطبی رحمةالله وایي:

وَسَکَتَةُ حفص دونَ قطع لطیفة .....[1]

اما قطع د قرائت څخه منصرف کیدل او هغه ته د پای ورکولو څخه عبارت دی او همدارنگه په بیرونی امر سره مشغول کیدل چې د قرائت سره هیڅ تړاو نلري قطع شمېرل کیږي. ځیني پخوانی پوهان د قطعی او وقف په منځ کې توپیر نه ایږدي او هغه دواړه په یوه مانا سره استعمالوي.

د قرائت قطع د آیتونو د سرونو څخه پرته په نورو ځایو کې روا نده، او قاری ته نه ښایي چې د آیت د پای څخه مخکې له قرائت څخه منصرف شي. ابن جزری په «النشر» کې په اسنادو سره د عبدالله بن ابی الهذیل څخه روایت کوي چې ویلي دي: «که د قَطعی څخه وروسته قاری د قرائت هڅه وکړه نو استعاذه دی وکړی.[2]»

اما د آیت په منځ کې وقف روا دی، او په آخرو کې غالباً ډېر تمام دی، او همدارنگه که د وقف وروسته قاری په یوه بیرونی امر سره مشغول نشي، استعاذه نه واجبیږي، که څه هم اوږده موده یې نیولی وي.

---

[1]: شاطبیه متن، د تورو باب، د کهف سورت.

[2]. عبدالله بن ابی الهذیل د مشهورو پوهانو او د زړو تابعینو، له ابی او عمر او ابن مسعود او نورو څخه روایت کړی دی.

**د وقف دحکمونو شرحه او دهغه دځینو دلیلونو ویل:**

د آیتونو پر سر په وقف کولو باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت وارد شوی دی: «ام سلمه رضی الله عنها د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرائت په برخه کې وپوښتیدل شوه، هغې په ځواب کې وویل: هغوی خپل قرائت له یوه او بل څخه قطع کاوه: فرمایل به یې: «الحمدلله رب العالمین» بیابه دریده، «الرحمٰن الرحیم» او بیابه دریده.»

امام ترمیذي دغه حدیث روایت کړی دی[1] او په یوه روایت کې د ابو داود څخه راغلي: ام سلمه وویل: «هغوی خپل قرائت آیت آیت قطع کولو.»[2]

د وقف د ځایونو پیژندل د فصیحانو په کلام کې د فصاحت د غوښتنو څخه دی لکه څرنگه چې د قرائت په تجویدکې هم د مهمو لازمو امورو څخه بلل کیږي.

لومړی دلیل هغه حدیث دی چې امام مسلم، ابوداود او نورو روایت کړی دی: «یوه خبری کړونکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې داسې وویل: من یُطع اللهَ ورسولَه فقد رَشَدَ ومن یَعصِهما فقد غَوی.»[3]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په قهر شو او ویې فرمایل: ته څومره بدی خبری کړونکی یې د دې ټولګې لپاره.[4]

اوپه یوه روایت کې امام ابوجعفر نحّاس[5] ده، په داسې اسناد سره چې ټول رجال یې د اعتماد وړ دی له عَرِی بن حاتم رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې هغه

---

[1]. النشر فی القراءات العشر، د مصر چاپ، ج ۱، ص ۲۳۹.

[2].جامع ترمذی د تحفة الاحوذی سره، د هند چاپ، ابواب القراءات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، ج ۴، ص ۷۵. او سنن ابو داود د عون المعبود سره، د هند چاپ، کتاب الحروف والقراءات، ج۴، ص ٦٥.

[3]. هغه څوک چې د خدای او رسول پیروی کړی لاره یې پیداکړه، اوهغه چاچې نافرمانی یې کوي، لاره یې ورکه کړه.

[4]. صحیح مسلم، کتاب الجمعة، ج ۴۸، دمحمد فواد عبدالباقی په تحقیق سره، ۲/ ۵۹۴. او د ابوداود او د سنن د عون المعبود سره، کتاب الجمعة، باب الرجل یخطف علی قوس، د هند چاپ، ۱/ ۴۲۹.

[5]. ابوجعفر احمد بن محمد بن اسماعیل مرادی د لغت، تفسیر او ادب لوی پوه او د ګڼ شمېر تصنیفاتو خاوند دی، په کال ۳۳۸ هــ ق کې وفات شوی دی.

خبرى كړونكى پر «ومن يَعصهما» باندې ودريد او دا قبيح وقف د رسول الله صلى الله عليه وسلم د انكار سبب وګرځيد[1].

او دوهم دليل څخه: د حاكم او بيهقى حديث له ابن عمر رضى الله عنهما څخه دى چې ويلى دي: «موږ د زمانى په يوه داسى مرحله كې ژوند كړى دى چې د موږ هريوه ته به د قرآن څخه له مخه ايمان راكول كيده، سود به نازليده، حلال، حرام، اوامر، زواجر او د وقف مناسب ځايونه به مو يادول، لكن اوس وينو: سړيو ته د ايمانو څخه مخكې قرآن وركول كيږي، د فاتحى څخه تر آخره يې وايي د وقف اوامر، زواجر او ځايونه يې نه پيژني او لكه خرابه او نامرغوبه خرما هغه هرلوري ته اچوي».

ابن جزرى په «النشر» كې له على بن ابى طالب رضى الله عنه څخه راوړى چې په «ورتل القران ترتيلا» كې د ترتيل د مانا په اړوند ترى نه وپوښتل شول، ده په ځواب كې وويل: ترتيل د تورو تجويد اود وقف د ځايونو پيژندل دي.

### د وقف ډولونه:

له كومه ځايه چې تر وقف پورې تړلى اطلاعات او دهغه د مناسبو ځايونو پيژندنه د آيتونو پر ماناګانو او تفسير پورې مرتبه ده، پوهان د ماناګانو په تحقق كې د اختلاف پر بنا د وقف ګڼ شمېر ډولونه ذكر كړى لكن هغه ډولونه د تداخل له امله له څلورو ډولونو څخه نه وزى كوم چې ابوعمرودانى او ابن جزرى په لاندې ترتيب سره ياد كړي دي:

تام، كافي، حسن، قبيح:

په دغو دولونو او اړوندو مثالونو كې د پوهانو د قولونو د تتبع او استقراء په نتيجه كې مو وميندل چې هغوى د وقف د ځاى مخكې او وروسته راغليو عبارتو ته په توجه

---

[1]. كتاب القاطع والائتناف، په مدينه منوره كي د عارف حكمت د كتابتون د مخطوطاتو څخه دى. او ابن جزرى هم دا حديث په خپل اسناد سره په «التمهيد» كي روايت كړى دى.

سره د هغه ځایونه تعیین کړي او د هغه نوع یې په ګوته کړې ده، او دا امر د دریو لاندې رابطو او یا د هغوی څخه دیوي رابطې پر بحث بنا شوی دی:

۱. لفظي رابطه

۲. د هر عبارت خاصه مانا

۳. عام سیاق (موضوع)

که د دوو عبارتونو په منځ کې هیڅ رابطه نه وه موجوده او هر عبارت په خپل نفس کې خاصه مانا پشپړه وه، او د فایدی د تمامیدو لپاره یې یوه بـــل عبارت تـــه اړتیا نه درلوده، او دوهم عبارت د یوي نوی موضوع پیل وو، پدې حالت کې وقف «تام» دی.

اوکه تراوسه موضوع لایوه ده نو وقف «کافي» دی.

اوکه دوه عبارتونه دیوه اوبل سره لفظي رابطه لري اوپه مانا او عام سیاق کې هم سره تړلي دی، لکن لومړی عبارت په خپل نفس کې یوه مفیده مانا تشکیلوي، پدې حالت کې وقف «حسن» ګڼل کیږي.

اوکه دوه عبارتونه پداسې یوه اندازه یوه اوبل ته اړتیا لري چې هیڅ کوم یو له بل څخه پرته مفیده مانا نشي رسولی، پدې وخت کې وقف «قبیح» دی.

اوس ددغو ډولونو تفصیل:

۱. تام:

«تام وقف هغه وقف دی چې د هغه د ماقبل او مابعد ترمنځ هیڅ لفظي او معنوي تړاو نه وي موجود» یعنې لومړی عبارت د ټولو وجوهو له لوري تام او له وروستې عبارت څخه مستقل دی، لکه: «أُوْلَئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ»[1] پر «المفلحون» باندې وقف «تام» دی، ځکه دهغې موضوع پای دی کومه چې د مؤمنانو په برخه کې خبری کوي، او وروسته دهغې څخه یوه نوی بله موضوع ده چې د کافرانو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دهغوی دکړو وړو په اړوند خبری

[1]. د البقرة سورت، ۲ – ۵ آیتونه.

کوي، او د دې دوو عبارتونو په منځ کې هيڅ کوم لفظي او معنوي تړاو وجود نلري، دليل يې دا دی چې دوهم عبارت په «إِنَّ» سره پيل شوی دی.
او د هغه غوندی د الفاتحه په سورت کې:
«الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ ﴿٦﴾» پر «الذين» او «نستعين» دواړو باندې وقف «تام» دی.
۲. کافي.
کافي وقف هغه وقف دی چې ماقبل يې له مابعد سره لفظي تړاو نلری او هر يو په خپل ذات کې مفيده جمله ده، لکن په عامه مانا او د موضوع په سياق کې د يوه او بل سره تړاو لريو لکه: «قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَاوَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾»[١]
پر«أَذِلَّةً» باندې وقف «کافي» دی، ځکه که څه هم د دوو جملو په منځ کې لفظي تړاو وجود نه لری، او هره يوه په ذات خپل کې مفيده جمله ده، لکن د موضوع سياق د يوه اوبل سره تړلي دي، ځکه لومړی عبارت د بلقيس خبره ده او د وقف په ځای کې پای ته رسيږي او دوهم عبارت د خدای تعالیٰ کلام دی چې د بلقيس خبری تصديق کوي.
ډېر پوهان دغه وقف «تام» بولي، پدې اعتبار سره چې د بلقيس خبری هلته پای ته رسيږي، او وروسته بله خبره ده، اما په تأمل سره روښانه کيږي چې د دوو عبارتونو د موضوع د سياق په منځ کې د تړاو له امله وقف د «کافي» له نوعی څخه دی. دغه موضوع ملاعلی قاری په خپله شرحه کې چې د جزری پر مقدمه يې کړی، راوړی ده.[٢]
بل مثال:

---

[١]. النمل سورت، ٣٤ آيت.
[٢]. المنح الفکرية، د مصر چاپ، ١٣٥٤هــ، ص ٥٨.

فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللّهُ مَــرَضاً وَلَــهُم عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾[1]
پر«مَــرَضاً» باندې وقف «کافي» دی، ځکه که «واو» استثناء فيه وشمېرل شي د دوو عبارتونو په منځ کې لفظي تړاو نشي موجود کېدلای لکن د موضوع سياق يو دی چې د منافقينو او هغو دردوونکو عذابونو په اړوند خبری کــوي کــوم چې خدای پاک(ج) د هغوی لپاره تيار کړی دی.

### ۳. حَسَن:

حَسَن هغه وقف دی چې دهغه ماقبل د مابعد سره په لفظ او د موضوع په سياق کې تړلی وي، لومړی جمله په خپل ذات کې مفيده ده اما دوهمه جمله په خپل نفس کې مفيده نده او د لفظي د تړاو له امله د مانا د بشپړکيدو لپاره لومړی جملی ته اړتيا لري، لکه: «الحمدُلله رب العٰلمين».

پر «الحمدُلله» باندې وقف «حَسَنْ» دی، که څه هم مفيده جمله ده اما په مابعد باندې پيل کړل ښه ندي ځکه د لومړی جملی سره تړاو لري، وجه يې داده چې د «رب» کلمه د «الله» صفت دی او نبنايي چې صفت او موصوف يوله بل سره بيل کړای شي، نوکه قاری د لوستلو د دوام قصد لري لومړی جمله دې له سره ووايې.

بل مثال: «يُخرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ»[2]
پر «الرسول» باندې وقف «حَسَنْ» دی لکن پر مابعد يې پيل کړل قبيح دی، ځکه مانا فاسده وي.

### ۴. قبيح:

قبيح هغه وقف دی چې ماقبل يې له مابعد سره ډېر ټينګ تړاو لري پداسې ډول چې هيڅ يو په يوازې شکل مفيده مانا نشي رسولی.

---

[1]. د البقرة سورت، ١٠ آيت.
[2]. د الممتحنة سورت، ١ آيت.

قبیح وقف ډېرې متفاوتی درجی لري او د ټولو څخه دېر قبیح وقف هغه دی چې په مانا کې خلل راولی او په وَهم کې فاسده مانا اچوي.
لکه څرنګه چې وقف امکان لري قبیح واوسي همدارنګه امکان لري ابتداء هم قبیحه و اوسي.

د قبیح وقف مثالونه:

«إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِي»[1]

«لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ....»[2]

«إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ وَالْمَوْتَى.....»[3]

«مَنْ يَهدِ اللهَ فَهوالمُهْتَدى ومَنْ يُضْلِلْ.....»[4]

«وتَرَكْنا يوسُفَ عِندمتاعِنا فَأَكلَهَ.....»[5]

د قبیح پیل (ابتداء) مثالونه:

«يَدُ اللّه مَغْلُولَةٌ»[6]

«إِنَّ اللّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاء»[7]

«الْمَسِيحُ ابْنُ اللّه»[8]

«عُزَيْرٌ ابْنُ اللهِ»[9]

«إِنَّ اللهَ ثالِثُ ثَلاثَةٍ»[10]

---

[1]. دالبقرة سورت، ۲۶ آیت.

[2]. د النساء سورت، ۴۳ آیت.

[3]. الانعام سورت، ۳۶ آیت.

[4]. الاعراف سورت، ۱۸۷ آیت.

[5]. د یوسف سورت، ۱۷ آیت.

[6]. د المائده سورت، ۶۴ آیت.

[7]. د آل عمران سورت، ۱۸۱ آیت.

[8]. د التوبة سورت، ۳۰ آیت.

[9]. د التوبة ، ۷۲

[10]. ؟

دغه او دغی په شان داسی نور ښکاره «قبیح» وقفونه دي، ځکه مانا بدلوي او فاسد وي او وَهْم ته رانه بلل شوی مانا داخلوي نو په ټینګار سره باید د دغه ډول وقف څخه ډډه وشي، او که قاری قصداً داسې وکړی نو ګنهګار کیږي او امکان لري داسې یوکار هغه کفر ته وباسي.

او همدارنګه هغه وقف هم د قبیحو وقفونو څخه شمېرل کیږي کوم چې د یوی مانا دوه برخی سره بیلی کړی او یا په لفظ کې د دوو تړلیو شیانو په منځ کې فاصله راولي، لکه د «إِنَّ» بیلول دهغه د اسم او خبر څخه، او حال د هغه له څښتن (ذوالحال) څخه، او موصوله د هغې له اصلي څخه، او جار او مجرور دهغوی له متعلق څخه، او فعل دهغه د فاعل او مفعول څخه او.....

لکه څرنګه چې امکان لری وقف او ابتداء به یو شمېر ځایونو کې قبیح وي، وصل هم کیدای شي کله قبیح واوسي چې په هغه وخت کې لازمه ده چې وقف وشي او دا هغه وخت دی چې وصل د مانا د خلل لامل ګرځي، او یا غیرمقصوده مانا وَهْم ته اچوي، لکه: «فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ يَوۡمَ يَدۡعُ الدَّاعِ إِلَى شَيۡءٍ نُّكُرٍ ﴿٦﴾ خُشَّعًا أَبۡصَارُهُمۡ يَخۡرُجُونَ»[1]

پر«عنهم» باندې وقف «لازم» دی، ځکه که وصل وشي د دې احتمال منځ ته راځي چې د «یوم» ظرف د «فَتَوَلَّ» د امر د فعل سره تعلق ونیسي چې پدې صورت کې مانا فاسدوي.

او همدارنګه دی: «إِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ الَّذِينَ يَسۡمَعُونَ وَالۡمَوۡتَى يَبۡعَثُهُمُ اللّهُ.....»[2]

پر «یَسْمعون» باندې وقف «لازم» دی، ځکه که وصل وشي مانا داسې کیږي چې اوریدونکی او مړي ټول استجابت کوي، یا دغه فاسده مانا د اوریدونکو غوږ ته اچوي، نو د مانا د روښانه کولو او د متغایرو ماناګانو د یوی او بلی سره د بیلولو لپاره پدې شانته ځایونو کې وقف «لازم» دی.

---

[1]. د القمرسورت، ٦ – ٧ آیتونه.

[2]. د الانعام سورت، ٣٦ آیت.

**پاملرنه:**

**کله د تفسیر د وجوهو، قرئت او اعراب د اختلاف په علت د وقف نوع هم فرق کوي (دغه دری امرونه هریو د یوه مثال غوبنتوکی دی).**

**لومړی: د تفسیر د وجوهو اختلاف: «وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلاَّ اللّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّابِهِ»[۱]**

**د هغو کسانو د تفسیر پربنا چې وايې: په متشابه سره علم یوازې تر خدای پاک(ج) پورې مخصوص دی، په علم کې راسخان دهغه په تفسیر نه پوهیږي بلکه په هغه او ټولو هغو شیانو باندې چې د خدای تعالی(ج) له لوري نازل شوی ایمان راوړی، پر «الاالله» باندې وقف «کافي» دی، دغه تفسیر د ابن عباس، ابن مسعود او عایشه رضی الله تعالی عنهم لخوا شوي دي، او امام ابوحنیفه او د ګڼ شمېر اهل حدیثو قول دی. او د قاریانو له جملی څخه نافع، کسائی او یعقوب په هغه نظر دي کوم چې عروه[۲] یې وایې: «پر متشابه باندې په علم کې راسخان نه پوهیږي، لکن وایې په هغه باندې ایمان لرو».**

**او د هغه کسانو د تفسیر پربنا چې وایې: په علم کې راسخان د متشابه پر تفسیر باندې پوهیږي، پر «الاالله» باندې وقف «غیرکافي» دی، ځکه چې پدې ځای کې «الراسخون» د «الله» پر جلاله لفظ باندې معطوف دی.**

**دغه قول هم د ابن عباس رض څخه روایت شوی دی، مجاهد[۳]، قاسم بن محمد[۴] او شمېر نور پردې قول دي.**

---

[۱]. د آل عمران سورت، ۷ آیت.

[۲]. ابو عبدالله عروة بن زبیر بن عوام، مور یې اسماء د حضرت ابوبکر رضی الله عنهم لور او د تابعینو له فقهاوو څخه دی، د خپلی خاله ام المؤمنین عائشی رضی الله عنها پر احادیثو باندې ډېر پوه تابعي او په کال ۹۴ هـــ ق کې وفات شوی دی.

[۳]. ابوالحاج مجاهد بن جبر مکی د تابعینو د لویانو او د قرآن د مفسیرینو څخه دی، په کال ۱۰۳هـــ ق کې وفات شوی دی.

[٤]. ابومحمد قاسم بن محمد ابی بکر صدیق، له پلار او عمی حضرت عایشی رضی الله عنها څخه روایتونه لري، هغه د تابعینو له فقهاوو او په خپله زمانه کې په سنتو باندې د ډېرو پوهو کسانو څخه وو، په کال ۱۰۲ ق کې وفات شوی دی.

دوهم: د قرائت د وجوهو اختلاف:«وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْناً وَاتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى»[1]

كه چيرته «واتخِذوا» په كسره سره قرائت شي نو پر «اَمْناً» باندې وقف «كافي» دى، ځكه چې پدې صورت كې دوهم عبارت نوى خبره ده.

اوكه چيرته «واتَّخَذوا» په فتحه سره قرائت شي وقف «غيركافي» دى، ځكه پدې صورت دوهم عبارت پر مخكنۍ جمله باندې معطوف دى.[2]

دريم: د اعرابو د وجوهو د اختلاف مثال: «آلم، ذلک الكتاب لاريبَ فيه».[3]

كه مبتداء او يا خبر د «آلم» لپاره مخكې كړو او د جملى تقدير داسې و وايـــو «هذا آلم» او يا «آلم هذا» نو پر «آلم» باندې وقف «تام» دى، او پردې بنا دهغه څخه وروسته نوى جمله ده.

او كه د «آلم» څخه وروسته خبر وبولو پر «آلم» باندې وقف «غيرتام» دى. او اعرابى نورى ديرى وجهې هم موجودى دي چې دلته يې د ذكر ځاى ندى. او دهغه مثال څخه د موږ قصد دادى چې روښانه شي د وقف نوعه د اعرابى وجوهو په تنوع سره توپير مومي او په اختلاف سره يې اختلاف پيداء كوي.

## د وقف نښې:

مخكې مو وويل چې پوهان د وقف په ويشلو كې اختلاف كړى دى او يادونه مو وكړه هرڅه چې يې پدې برخه كې ويلي او بيان يې تير شو وقف د څلورو ډولونو څخه بهر ندي لكن په مصحفونو كې په هغو باندې اكتفاء نده شوى او په تفصيل سره يې بيان كړي دي او غالباً د سجاوندي[4] په وېش يې اعتماد كړى او وقف يې په پنځه ډوله ويشلي دي:

---

[1]. د البقرة سورت، ۱۲۵ آيت.

[2]. نافع مدنى او ابن عامر شامى«واتخذوا» د خاء په فتحه سره لوستلى دى او نورو قاريانو د هغې په كسره سره.

[3]. د البقرة سورت، ۱ – ۲ آيتونه.

[4]. ابو عبدالله محمد بن طيفور سجاوندي غزنوي.

**لازم، مطلق، جايز، مجوّز لوجه، مخّص لضرورة.**

**د دغو هر يوه ته په يوه مخصوص رمز اشاره کيږي چې بيان يې په لاندې ډول دی:**

**«م» د لازم وقف رمز دی، يعنې که وصل وشي مانا فاسد وي يا يوه بله مانا چې مقصود نده وَهْم ته اچوي او د هغه مثال تير شو.[1]**

**«ط» د مطلق وقف رمز دی، يعنې په مابعد باندې ابتداء حَسَنه ده چې دغه حالت يوازې په تام او يا کافي وقف کې صورت مومي.**

**«ج» د جائز وقف رمز دی يعنې هغه ځايونه چې پکې وقف او وصل د دوو اعرابي وجهو له امله بيله ترجيح څخه په يوه مساوي درجه کې سره و اوسي، لکه: «يَسُومُونَكُمْ سُوَءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءكُمْ».[2]**

**روا ده چې «يُذَبِّحون» د نصب په ځای کې د «يسومونکم» د فاعل څخه حال وبولو او د «العذاب» پر کلمه باندې وقف ونکړو، يا دا چې هغه د سره يوه جمله وشمېرو او په «العذاب» باندې وقف وکړو.**

**«ز» د مجوَّز له وجه وقف رمز دی، او دغه په هغه وخت کې وي چې دوې متفاوتې وجهې وجود ولري او د وقف کولو وجه مرجوحه وګڼل شي.**

**مرجوحه وجهې ته په «ز» سره اشاره کوي، لکه: «أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُاْ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالآَخِرَةِ فَلاَ يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ»[3]**

**د راجحې رأيې پربنسټ په «فَلا» کې «فاء» سببيه ده نو د وقف څخه وصل بهتره دی. او جائز ده چې «فاء» استئنائيه هم اعراب کړو او پردې بنا سره وقف پر «بالاخرة» باندې تجويز کيږي لکن دا مرجوحه وجه ده.**

---

[1]. امام، محقق، مقرى، نحوى او مفر چې د شپږمې پيړۍ په نيمايي کې يې ژوند کړی، ذهبی وايي: نېوهيږم چې د چا څخه يې درس ويلی، او څوک يې شاګردان دي، پر قرآن يې ښه تفسير ليکلی دی، «علل القراءات و الوقف والابتداء» د ده د تاليفاتو څخه دي.

[2]. د البقرة سورت، ۴۹ آيت.

[3]. د البقرة سورت، ۸٦ آيت.

«ص» د نَفَس ښکلو لپاره د ضرورت په وخت کې د مرخّص وقف رمز دی. اودغه هغه وخت دی چې کلام اوږد وي او نَفَس پرې شي، پدې حالت کې قاری کولی شي د مابعد سره د اړيکې باوجود وقف وکړي.

پر دې بنا سره که وروستنې جمله مفيده او مفهوم وه ابتداء پرهغه باندې روا ده او که نه وه بايد اعاده صورت ومـــومي، لکه: «حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ»[1]

«لام» د هغه ځای رمز دی چې د وقف او ابتداء صلاحيت پکې نه وي، او د قبيح او حَسَن وقف په ځايونو کې اينښودل کيږي، ځکه په حَسَن کې وقف جائز او ابتداء ناروا ده، او په قبيح کې نه وقف روا دی او نه ابتداء.

«.·.» دغه درې نقطې هغه وقف ته اشاره کوي چې د «مراقبتي د وقف» اويا د «ممانعتي د وقف» په نامه سره ياديږي او د هغه څخه مقصود د وقف د دوو مناسبو ځايونو يوځايوالی او مجاورت دی، نو کولايشو د دغو دوو ځايونو څخه پر يوه بانـــدې وقـــف وكـــړو، امـــا په دواړو ځايونو وقـــف نشي کيدلای، لـــکه: «ذَلِكَ الْكِتَابُ ∴ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ »[2]

په دغه آيت کې دوه متجاور وقفونه موجود دي، يو پر «ريب» باندې او بل پر «فيه» باندې، که پر لومړی باندې وقف وشي د دوهم وصل واجب دی، ځکه پدې صورت کې د «فيه» جار او مجرور دهغه تر مابعد پورې تعلق نيسي او که په دوهم باندې وقف وشي نو د لومړی وصل واجب دی، ځکه پدې صورت کې د «فيه» جار او مجرور تر «ريب» پورې تعلق نيسي.

---

[1]. د االنساء سورت، ۲۳ آيت.

[2]. البقرة سورت، ۲ آيت.

## بسم الله الرحمٰن الرحيم

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أُوْلَئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللّهِ
وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢١٨﴾ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ
لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ كَذَلِكَ يُبيِّنُ اللّهُ لَكُمُ
الآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلاَحٌ
لَّهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ وَلَوْ شَاء اللّهُ
لأعْنَتَكُمْ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾ وَلاَ تَنكِحُواْ الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلأَمَةٌ
مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلاَ تُنكِحُواْ الْمُشِرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ
خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُوْلَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللّهُ يَدْعُوَ إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ
بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ
أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ
حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ
لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّكُم مُّلاَقُوهُ وَبَشِّرِ
الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾ وَلاَ تَجْعَلُواْ اللّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّواْ وَتَتَّقُواْ وَتُصْلِحُواْ بَيْنَ
النَّاسِ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾ لاَّ يُؤَاخِذُكُمُ اللّهُ بِاللَّغْوِ فِيَ أَيْمَانِكُمْ وَلَكِن يُؤَاخِذُكُم
بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾ لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ
أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآؤُوا فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُواْ الطَّلاَقَ فَإِنَّ اللّهَ سَمِيعٌ
عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾ -وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ وَلاَ يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا
خَلَقَ اللّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ
إِنْ أَرَادُواْ إِصْلاَحًا وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللّهُ عَزِيزٌ
حَكُيمٌ ﴿٢٢٨﴾ الطَّلاَقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ
أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلاَّ أَن يَخَافَا أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا

**حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَعْتَدُوهَا وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللّهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٢٩﴾ صدق الله العلى العظيم.**

**تمرين:**

۱. د وقف، قطعي او سکت په منځ کې توپير شرح کړئ.

۲. د سنت سره موافقه طريقه په وقف کې څه ده؟

۳. لاندې وقفونه د مثال په راوړلو سره شرح کړئ

تام، کافي، حَسَن، قبيح.

۴. د قبيحي ابتداء لپاره مثال راوړی.

۵. څرنګه امکان لري وصل قبيح و اوسي؟ مثال روارړی.

٦. په هغه ځايونو کې چې د لاندې څخه يې خط ايستل شوی دی، د وقف ځايونه تعيين کړئ.

"اَلْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ اَلْعَالَمِينَ. الرَّحْمن الرَّحِيم. مَالِکِ يَوْمِ الدِّينِ. إِيَّاکَ نَعْبُدُ وإِيَّاکَ نَسْتَعِينُ. اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ. صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ."

۷. په لاندې ځايونو کې د وقف حکم څه دی؟ او ولی؟

«فَوَيلُ للمُصَلّينَ»، «مَن يَهدِ ٱللهُ فَهوَ ٱلمهُتَد و مَن يُضلل»، «إِنَّ ٱللهَ لاَيَستَحِی»، «قُل إِنَّ صَلاَتِی وَنُسُکِی وَ مَحيَایَ وَمَمَاتِی»، «کَذَالِکَ يُبَيِّنُ ٱللهُ لَکُم و ٱلايتِ لَعَلَّکُم تَتفَکَّرُونَ »، «فِی ٱلدُّنيَا و ٱلأَخِرةِ».

**مأخذونه:**